د مدني ټولنې د بشري حقونو شبکې له نشراتو څخه




# په افغانستان کې

# له کرکې خپرونې سره مبارزه

# په افغانستان کې له کرکې خپرولو سره مبارزه

# په افغانستان کې له کرکې خپرولو سره مبارزه

حسن‌علی فیض، خلیل روفی، سید حسین انوش،
عبدالرحمان یاسا، ، مسعود آدرخش

د مدني ټولنې او بشري حقونو شبکې له نشراتو څخه

غبرگولی ۱۴۰۰

## مقابله با نفرت‌پراکنی در افغانستان

**لیکوالان:** حسن‌علی فیض، خلیل روفی، سید حسین انوش، عبدالرحمان یاسا، ، مسعود آدرخش

**ډیزاینر:** روح‌الله رگبار

**تاریخ نشر:** جوزا ۱۴۰۰

**نشانی:** کارته ۳، کابل افغانستان

**شماره تماس:** ۰۰۹۳ ۷۹۹۷۹٦۹۴۵

**ویب‌سایت:** www.cshrn.af

**ایمیل:** info@cshrn.af


Civil Society & Human Rights Network (CSHRN)

# د مطالبو لړلیک

موخه: ........................................................................................ ۱

**لومړۍ برخه: سریزه .................................................................................. ۳**

کرکه خپرونکې خبرې کوم ډول خبرې دي: ............................................................ ۳
کرکه اچوونکي جرایم کوم دي؟ ......................................................................... ۵
حقوقي چوکاټ: د بشري حقونو په اسنادو کې د کرکه خپرونکو خبرو ممنوعیت ...... ٦
د بیان د آزادۍ حق، یانې څه؟............................................................................ ۹
د بیان آزادی له کرکه خپرونکو خبرو څخه جلا کول .............................................. ۱۰
د کرکه خپرونکو خبرو پایلې څه دي؟ ................................................................ ۱۳
روانې گوښه توب: ............................................................................................ ۱۳
فزیکی تاوتریخوالی: ......................................................................................... ۱۵
ټولنیز انډول له منځه وړل ................................................................................. ۱۷
رسنیز اخلاق او کرکجنې خبرې............................................................................ ۱۹
نور اصطلاحات.................................................................................................. ۲۱
اسلام او کرکه خپرونکې خبرې ........................................................................... ۲۱

**دوهمه برخه: په افغانستان کې کرکجنې خبرې (نفرت لرونکې خبرې)....... ۲۷**

حقوقی چوکاټ:.................................................................................................. ۲۸
ټولنیزې رسنۍ؛ د کرکجنتوب د خپرولو وسیلې په توگه:........................................ ۳۱
په افغانستان کې د کرکجنو خبرو مشهور ډولونه: .................................................. ۳۳
۱. د جنسیت پراساس د خبرو څخه کرکه: ............................................................ ۳۳
۲.د قومیت په اساس تاوتریخوالي او کرکجنی خبرې: ............................................ ۳٦
۳. د معلولیت لرونکو وکړو په وړاندې د تاوتریخجنو خبرو کول: ............................ ۳۹
٤. د مذهب پر بنسټ کرکه لرونکې ویناوې:.......................................................... ٤۱

**دریمه برخه: له کرکجنو خبرو سره مبارزه کول ........................................ ۴۲**

د مثبتو پیغامونو د رسولو لپاره ځینې ټکي .................................................. ۴۲

د کرکجنیو خبرو د اغیزو په اړه د عامه پوهاوي لوړول: ........................................ ۴۴

د خواله رسنیو څخه په ګټه اخیستو د خلکو د عامه پوهاوي لوړل. ............... ۴۶

د محلي شورا غونډو له لارې د معلوماتو راټولول او خپرول: ........................... ۵۰

تلویزیون او راډیو: ...................................................................................... ۵۰

د نفرت لرونکو خبرو څارنه او راپور ورکونه: ........................................................ ۵۰

د بدلون راوستلو لپاره عدالت غوښتنه: ............................................................ ۵۳

پولیس: ....................................................................................................... ۵۵

څارنوالان: ................................................................................................... ۵۶

د مدنې ټولنو بنسټونه: .................................................................................. ۵۶

ژورنالستان: ................................................................................................ ۵۷

په افغانستان کې د کرکې لرونکو خبرو څارنه او څیړنه: ...................................... ۵۸

د معلوماتو راټولولو طریقه: ............................................................................ ۵۹

په شخړو کې د فرهنګي منازعاتو درک کول: ..................................................... ۵۹

**ماخذ او لړلیک ........................................................................................ ۶۱**

**موخه:**

د کرکې خپرونکو خبرو دغه ښوونیزه رساله یو لارښود دی پداسې حال کې چې د بیان د آزادۍ حق مو هم خو ندي ساتلی وي څذګه کرکه خپرونکې خبرې وپیژنو او په مؤثره توګه له دې سره مبارزه وکړو. دا رساله هغه ننګونې هم په ګو ته کوي او څیړي چې د کرکې خپرونکو خبرو له لارې د بشری حقونو په چوکاټ کې هر اړخیز ډیموکراتیک ګډون ته خطر پېښوي. دغه مقاله د بشري حقونو پر اصولو ولاړه ده؛ دا اصول لکه د بیان ازادي، د انسانانو برابرۍ، د تبعیض نشتوالی د تاوتریخوالي او د ناوړه ګټه اخیستو نشتون، دا ټول هغه ارزښتونه دي چې په ګډه د یوې متنوعې ټولنې د غښتلتیا لپاره اړین دي. او د پورتنیو ارزښتونو په شتون سره، د ټولنې ټول وګړي له بشري حقونو څخه برخمن کیږي .

**جوړښت :**

دغه کړنالره په لاندې ډول په دریو برخو ویشل شوې ده، لومړۍ برخه، د کرکې خپرونکو خبرو پر تعریفونو باندې مشتمله ده، د بشري حقونو د نړیوالو اسنادو په چوکاټ کې د دا ډول خبرو څېړنه چې د نفرت یا کرکه خپرونکو الفاظو یا خبرو توپیر د بیان له آزادۍ سره څه دی او همدا ډول د کرکه خپرونکو خبرو قربانیان څوک دي . دا هغه څه دي چې په دې برخه کې څېړل کیږي. همدا راز، په دې فصل کې ځینې اصطلاحات لکه (اطلاعات)، غلط غیر قصدي اطلاعات، قصدي غلط اطلاعات، زیان رسوونکي اطلاعات، او جعلي خبرونه تعریفیږي .

دویمه برخه، دهغه څه په اړه چې په افغانستان کې د کرکه اچوونکو خبرو لپاره لاره اواروي په اړه يې وضاحت کيږي، د دا ډول خبرو لپاره په حقوقي اډانه او وســـايلو باندې بحث کيږي. پدې برخه کې د کرکه خپرونکو خبرو پر مهمو ډولونو باندې بحث کوو چې په هيواد کې د جنست، توکم، مذهب او د معلوليت لرونکو اشــخاصــو پروړاندې ترسره کيږي. پر دې سربيره، د کتاب دويمه برخه د کرکه خپرونکو خبرو اصـــلي عوامل په ګوته کوي او د هغه چاپيريال د رامنځته کيدو په موخه چې هلته د بيان آزادي، برابري، او هر اړخيز ډيموکراتيـک ګـډون موجود وي څو دولـت او د مـدني ټولنو سازمانونو ته لازمې لارښوونې وړاندې شي.

د دې رســـالې دريمه برخه پر هغو برياليو تګلارو باندې تمرکز کوي چې د مدني ټولنو بنســـټونه وکولی شي د کرکه خپرونکو خبرو په مقابل کې ترې په ســـمه توګه ګټه پورته کړي. په دې برخه کې د خلکو د عامه پوهاوي په اړه څيړنه کيږي، همداراز د داډول خبرو پر وړاندې د څارنې او نظارت او په اړه يې د راپور ورکولو پر ميکانيزم تحقيق شـــوی. د دې ترڅنګ د کرکه خپرونکو خبرو د مخنيوي په برخه کې د عدالت غوښـــتنې د بهير څخه يادونه شوې ده.

**مخاطبان**

د دې رســـالې مخاطبان عام خلک، د مدني ټولنو فعالين، دولتي چارواکي او زده کړيالان دي.

# لومړی برخه: سریزه

**کرکه خپرونکې خبرې کوم ډول خبرې دي:**

که څه هم د کرکه خپرونکو خبرو ښـــکارنده څه نوې نه ده، خو په دې وروســـتیو کې د ټولنیزو رســـنیو له لارې د داډول خبرو خپرېدل په ســـتر گواښ بدل شـــوې. هیوادونه د کرکه خپرونکو خبرو د کابو کولو لپاره له قانوني اقداماتو څخه کار اخلي. کرکه خپرونکې خبرې له هغه ډول ناوړه خبرو څخـه عبـارت دي چې خلـک یـا ډلې پـه گروپونو کې د هغوی د غړیتوب له وجې د ځورونې ښکار کیږي. لامل یې هم دادی چې دوی د یو خاص هویت لرونکي دي، د بېلگې په توگه لکه مذهب، توکم، قوم، عمر، جنسـیت، او جسـمي او رواني معلولیت له امله. (Curtis, 2010) دې کې هر ډول خبرې شاملې دي کوم چې د ډلې هویت پر بنسټ ناوړه ذهنیتونه یا عمل هڅوي، لکه د هویت پر بنســـټ تعصـــبي ناوړه گټه اخیســـتنې، کرکه خپرونکې خبرې، او افراطي ســـیاسي او مذهبي شـــعارونه. ( Simpson, ۲۰۱۳). د بېلگې په توگه، مسلمانان او د سپتمبر ۱۱ مه ! هغوی ته خدمت مه کوئ ! هغوی سره خبرې مه کوئ، او هغوی ته د راننوتلو ا جازه مه ورکوئ ! (Waldron, 2019)، یا ( یهودیان او ســـپي منع دي ) Waldron, ۲۰۱۹)، یـا، ا فغـانـان دې مـارکیـټ تـه د دا خلېـدو اجـازه نـه لري. (Bezhan,۲۰۱۹). دا د کرکې خپرونکو خبروڅو نمونې دي.

کرکه خپرونکې خبرې لکه څنگه یې چې له نوم ښـــکاري یوازې په خبرو پورې محدودې نه دي، بلکې د نښو او علایمو په څېر غیر کلامي انځورونه

هم ورکې شامل دي . د بېلګې په توګه، د نازيانو نښان (سِوستيکا/Swastika)، چې د يهوديانو ترټنه يې تحريکوله، يا د صليب نښه چې په تاريخي پلوه د افريقايي امريکايانو د ډارولو او تهديدولو لپاره کارول شوي، دا ډول نښانونه د کرکه خپرونکو خبرو په کتار کې هم راځي. (Simpson, 2013).

نفرت لرونکی خبرې قربانيانو ته رواني او فزيکي زيان رسوي. د دا ډول خبرو قربانيان، کله چې دوی دې متوجه کيږي چې د ټولنې د نورو غړو لخوا رټل شوي يا ګوښه شوي دی، د دوی روان له سخت فشار سره مخ کيږي.

کله چې نفرت خپرونکې خبرې د يوې ځانګړې ډلې د ځورونې او کرکې لامل وګرځي، دا هم شونې ده چې د جسمې ځورونې حالات رامنځته شي. دې ټکي ته په پام سره او د دې اغيزو په پام کې نيولو سره، د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان د ۲۰۲۰ کال د جون په ۱۸ مه نېټه د نفرت خپرونکو خبرو د مخنيوي او له منځه وړلو په موخه عملي پلانونه او ستراتيجيانې پر لار واچولې. که څه هم د ملګرو ملتونو نړيوال سازمان دا مني چې د نفرت خپرونکو خبرو لپاره يو هر اړخيز تعريف او مفهوم وجود نه لري. خو په دې حال کې، په دې پلان کې کرکه خپرونکې خبرې دا ډول تعريف شوي دي: ( په ويناو، ليکلو يا چلند کې له سپکاوي ډکې خبرې چې په نتيجه کې يې يوه ډله يا يو کس د مذهب، توکم، قوميت، جنست، رنګ يا د نورو عواملو لامله ځورول کيږي يا ورته سپکاوی کيږي ) (UN, 2020).

دا عملي پروګرام په ډاګه کوي چې د نفرت خپرونکو خبرو ښکارنده مخ پر زیاتېدو ده او له دولتونو څخه غواړي چې د داډول اعمالو د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره سیاستونه رامنځته او عملي کړي. په داسې حال کې چې د کرکه خپرونکو خبرو ښکارنده په دې ورځو کې د ټولنیزو رسنیو له لارې مخ پر زیاتېدو ده، دا ډول خبرې د تاریخ په اوږدو کې د ملامتولو، توهین، سپکاوي او د مقابل لورې او ډلې د بدنامولو په موخه استفاده شوې دي. خلک د زیاتو دلایلو له مخې د کرکه خپرونکو خبرو څخه ګټه اخلي، چې یوه یې سیاسي ګټه ده. د بېلګې په توګه، د ټاکنو پرمهال سیاسي کسان او دهغوی پلویان امکان لري چې د نفرت خپرونکو خبرو له لارې خپله حوزه غښتلې کړي.

پدې وروستیو کې،د کرونا نړیوالې وباء دا وښوده چې مسؤولین د کرکه خپرونکو خبرو څخه د یوې یا څو ډلو د ناکامولو یا کمزورې کولو په موخه د یوې وسیلې په توګه کار اخلي. هغه کرکه خپرونکې خبرې چې د کرونا ویروس اړوند د نړۍ به ګوټ ګوټ کې کارول شوې، دا ښیي چې لږکي، په ځانګړې توګه مذهبي یا قومي لږکي په څومره کچه د داسې کرکه خپرونکو او زیان رسونکو خبرو ښکار شوي دي.

## کرکه اچوونکي جرایم کوم دي؟

د نفرت یا کرکې خپرولو له تعریفونو څخه یو یې عبارت دی له " جنایی دوسیې چې په بشپړه توګه یا تر یو بریده د توکم، دین، معلولیت، جنسیت، قومیت، توکم، یا د یو شي یا فرد د جنسیتي هویت له تعصب څخه رامینځته شي.". (FBI, 2009).که څه هم د کرکه خپرونکو خبرو قربانیان له

دې امله ځورول کيږي چې دوی په يوه خاصــه ډله، لکه مذهب، توکم، قوم، معلوليت، جنســيت، ملي هويت او داســې نورو پورې تړاو لري، خو د کرکه خپرونکو جرمونو قربانيان متفاوت دي، ځکه چې د کرکه خپرونکو جرمونو اعمال ښــکاره دي. نړيوال چوکاټونه، لکه د هر ډول توکمي تبعيض د ليرې کولو نړيوال کنوانسيون، له دولتونو غواړي چې ( د توکم او وګړو پر وړاندې هر ډول ځوروونکي او آزاروونکي اعمال ) د جرم په توګه اعلان کړي.

به ټوليزه توګه، له هغه ځايه چې کرکه خپرونکي جرمونه په ملي قوانينو کې د جنايي اعمالو په توګه پيژندل شوي دي، به قانون کې دا ډول اعمالو ته جزا وړاندې کيږي او په رســـمي کانالونو بايد دا ډول جرايم تعقيب او وڅېړل شي. له هغه ځايه چې کرکه خپرونکې خبرې د بيان له آزادۍ، فردي او ګروپي ډلو، يا لږکيو، او همدا راز د عزت، برابرۍ او فردي مصؤنيت بحثونو سره پيچلې اړيکه لري، په حقوقي چوکاټ کې د دې تنظيم يوه ننګوونکې موضوع ده. (UNESCO,2015. خو په هغه ډول چې لاندې برخه کې څېړل کيږي، ډېری چوکاټونه او نړيوال حقوقی اسناد، نفرت خپرونکې خبرې د بشري حقونو ماتوونکې بولي او دا يې منع کړي دي.

## حقوقي چوکاټ: د بشري حقونو په ا سنادو کې د کرکه خپرونکو خبرو ممنوعيت

د بشري حقونو نړيوال مختلف اسناد، د انسان بنسټيز حقونه او دهغوی آزادي په رســـميت پيژني او تبعيض، کرکه خپرونکې خبرې او هغه خبرې چې کرکه هڅوي، منع کړي دي. دا اســـناد دولتونه دې ته هڅوي چې دا حقونه او مسؤليتونه او قوانين لا غښتلي کړي. د بشري حقونو نړيواله

اعلامیه (UDHR)، ، د توکمي تبعیض د رفعه کولو لپاره نړیوال کنوانسیون[1]، (ICERD)، ، د ښـــځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض لیرې کول کنوانســـیون[2] (CEDAW)، ، د معلولیت لرونکو وګړو د حقونو کنوانســـیون (CRP[3]D) ، د مدني او ســـیاسي حقونو نړیوال میثاق یا تړون (ICCPR)  ټول هغه حقونه او آزادي چې نفرت خپرونکو خبرو پورې تړاو لري په رسمیت پیژني.

د بشري حقونو نړیوالې اعلامیې لومړۍ ماده پر دې ټینګار کوي چې ټول انسانان برابر دي. په دویمه ماده کې د حقوقو او آزادیو برابر استحقاق په ورته توګه بیان شـــوی دی: " د کوم ډول توپیر پرته، لکه توکم، رنګ، جنس، ژبه، مذهب، ســیاسي یا نور نظرونه، ملي یا ټولنیز اصــل، ملکیت، زیږون یا بل کوم حالت (د ملګرو ملتونو نړیوال ســـــازمان عمومی مجمع ۱۹۴۸ ) د خوندیتوب او محافظت حق له هر ډول تبعیض او آزار پرته  په دریمه او اوومه ماده کې بیان شوی دی. د دې برسېره، د فکر د آزادۍ اتلسمه ماده،

---

[1] اعلامیه جهانی حقوق بشر توسـط مجمع عمومی سـازمان ملل متحد تصـویب شـده و حقوق و آزادی های همه انســـان ها را در بر می گیرد. این اعلامیه توســـط مجمع عمومی در دهم دســـمبر ســـال ۱۹٤۸ به عنوان قطعنامه شماره ۲۱۷ در فرانسه پذیرفته شد.

[2] کنوانسیون بین المللی رفع هرگونه تبعیض نژادی یک کنوانسیون سازمان ملل است. به عنوان یک سند نسل سوم حقوق بشر، اعضای خود را متعهد به رفع هر گونه تبعیض نژادی و ترویج تفاهم در بین همه نژادها می کند.

[3] کنوانســـیون رفع انواع تبعیض علیه زنان یک معاهده بین المللی اســـت که در ســـال ۱۹۷۹ توســـط مجمع عمومی سازمان ملل متحد تصویب شد.

[4] کنوانسیون حقوق افراد دارای معلولیت یک معاهده بین المللی حقوق بشر سازمان ملل متحد است که هدف آن محافظت از حقوق و حیثیت افراد معلول است.

[5] میثاق بین المللی حقوق مدنی و ســـیاســـی معاهده ای چند جانبه اســـت که در قطعنامه A۲۲۰۰ مجمع عمومی ســازمان ملل متحد در ۱٦ دســمبر ۱۹٦٦ تصــویب شــد و طبق ماده ٤۹ میثاق از ۲۳ مارچ ۱۹۷٦ لازم الاجرا است.

د هر وګړي لپاره دین او وجدان په رســـمیت پیژني. هر څوک آزاد دی چې خپل دینی مراسم په خصـوصي، یا عمومي، یا په یواځې توګه او یا هم په ډلییزه توګه ولمانځي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال ســـازمان عمومی مجمع ۱۹۴۸). د بشـري حقونو د نړیوالې اعلامیې ۱۹ مه ماده د عقیدې او بیان ازادی د هر وګړي لپاره یو حق بولي او حق لري چې هرڅوک مالوماتو ته لاسرسـی ولري او هغه انتقال کړي. او په شـلمه ماده کې د راغونډېدو او د یوځای کېدو حق په رسمیت پیژندل شوی دی.

د نړیوالو کنوانســـیونونو څخه، د توکمیز تبعیض د ټولو ډولونو له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون خورا ډېر د کرکه خپرونکو خبرو پورې تړاو لري. د دې کنوانسیون څلورمه ماده د هرډول افکارو چې د توکم، او د توکمیز نفرت او تبعیض پــه موخــه خپرول کیږي منع کوي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان عمومی مجمع، ۱۹٦٥ )

د مدنی او ســـیاســـی حقونو نړیوال تړون ICCPR د بیان ازادي، د ټولو ســـیاسي ګوندونو، کاندیدانو او وګړو ته د بیان د آزادۍ حق بیانوي. همدا راز زیاتوي چې ژورنالیســـتان بشـــپړه آزادی لري چې له ټولو ګوندونو او نوماندانو سره خبرې وکړي، دوی آن د دوی دا حق هم په رســـمیت پیژني چې ژورنالیســـتان حق لري د دولت مخالفت سره سره، خلکو ته ټولې مهمې مســلې په ګوته کړي، دا میثاق د بیان د آزادۍ پر وړاندې یو شـــمېر قانوني محدودیتونه هم وړاندې کوي. ۱۹ ماده د شهرت حق خوندي کوي او د ملي امنیت، عامه نظم، عامه روغتیا، یا اخلاقو ساتنه کوي.

شـــلمه ماده حکم کوي چې د قانون له مخې هر ډول عمل یا څرګندونې چې "د ملي، توکميز، یا مذهبي کرکې ملاتړ وکړي چې تبعیض، دښــمني او تاوتریخوالي ته لمن وهي، منع دی. ( د ملګرو ملتونو نړیوال ســـازمان، ۱۹٦٦ ) د یادونې وړ ده چې دا ماده دولتونو ته مشوره نه ورکوي چې ټول منفي بیانات منع کړي، بلکه هغه چې تعصب، د ښمني او تاوتریخوالي ته لمن وهي باید منع شي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان، ۱۹٦٦ )
یو شمیر نور کنوانسیونونه په فعاله توګه د هغو ګروپونو او ډلو ساتنه او دفاع کوي چې په تاریخي لحاظ ګوښه شوي دي. د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د رفع کنوانسیون CEDAW دویمه ماده په هر ډول د ښځو پر وړاندې تبعیض ردوي او له دولتونو غوښـــتنه کوي د ښـــځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو لپاره مناســـب قوانین تصـــویب کړي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان، ۱۹٦٦ ). په همدې ترتیب د معلولیت لرونکو وګړو د حقونو کنوانســـیون CRPD، د دې وګړو په حقونو، چې له هغې جملې څخه د دوی جســـمي او رواني حالت ته احترام دی، هم راځي. اوولســـمه ماده د دوی د ژوند، آزادی، او امنیت پر حقونو، لسمه او څوارلسمه ماده د دوی پر آزادی، له آزار څخه خوندیتوب، او ناوړه ګټه اخیستنه شامل دی. شپاړسمه ماده، پر سیاسي بهیرونو کې د دوی د ګډون حق او نورو عمومي حقونو ټینګار کوي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان، ۲۰۰٦ ).

**د بیان د آزادۍ حق، یانې څه؟**

د بشرـــي حقونو نړیوال اعلامیه، د بیان او عقیدې چې له هغې څخه "پرته له مداخلې او تعقیب څخه د عقیدې درلودل؛ مالوماتو ته لاسرســـی

او دهغوی انتقال، او د رسنیو له لارې د افکارو لېږد) د وګړو د بنسټیز حق په توګه به رســـمیت پیژني. (۱۹ ماده) د بیان آزادي د یو فرد لپاره په ټولنه کې دهغه دا حق خوندي کوي ترڅو هغه وکولی شي خپل فکر، عقیده او نظر د مختلفو مســـائلو په اړه له جبر او قانونی تعقیب پرته وړاندې کړي. ((Mill, 2017). د مدنی او ســـیاســـی حقونو نړیوال میثاق او داســـې نورو کنوانســـینونو له لارې د بیان د آزادۍ د حق ملاتړ کیږي. د دې سره، لکه څنګه چې په دې څپرکي کې تر څېړنې لاندې نیول کیږي، د بیان د آزادۍ اصـــل کله نا کله د کره خپرونکو الفاظو او خبرو سره په ټکر کې هم راځي، خو د دې لپاره چې د نورو ډلو او ګروپونو امنیت او حیثیت وســـاتل شي، باید په قانونی توګه د خبرو او بیانیو اصل محدود شي.

## د بیان آزادی له کرکه خپرونکو خبرو څخه جلا کول

د بیان د آزادۍ او د کرکه خپرونکو خبرو تر مینځ اړیکې پېچلې دي، په ځانګړي توګه کله چې دولتونه د کرکه خپرونکو خبرو تر عنوان لاندې د بیان د آزادۍ محدودیتونه ســـیاسي کړي او هغې ته پراخوالی ورکړي. ســـنتی لیبرالان د بیان د آزادۍ اصـــل ته ډېر ارزښـــت ورکوي، او دهمدې ارزښت له مخې د کرکه خپرونکو خبرو له سانسور کولو سره هم مخالفت لري. د لیبرالانو له آنده، د دولتونو د ســـانســـور له ســـیاســـتونو څخه دا شونې ده چې د کرکه خپرونکو خبرو له پایلو څخه ډېر لیبرال دیموکراسي زیانمنه شي. اصـــلي اندیښـــنه دلته مطرح کیږي چې د خبرو د ســـانســـور لپاره د دولتونو لخوا هلې ځلې ښـــایې هغه غږونه چې نه رســـنیز کیږي

غلي کړي خو هغه به په حقیقت کې مشـــروع وي. په ځانګړې توګه هغه خبرې چې دولت له ګواښ سره مخ کوي. په ټولیزه توګه، دوی اســـتدلال کوي چې که نیوکه، حتی که کرکه خپرونکې خبرې هم ورکې وي، د لیبرال دیموکرا سی د سیاسي روغتیا لپاره حیاتي ارزښت لري. د دوی له آنده، د کرکه خپرونکو خبرو د مخنیوي لپاره غوره لاره داده چې د ( نظریاتو په خلاص مارکیټ کې ) یې غلطې و ښایې نه دا چې باید سانسور یې کړې. خو د کرکه خپرونکو خبرو د محدود کولو پلویان په دې آند دي چې سنتی لیبرالانو ( ټولنیز برابروالی ) په غلطه توګه په پام کې نیولی دی. په ځانګړې توګه، د کرکه خپرونکو خبرو د مخنیوي په خاطر چې کومې ډېرې خبرې کیږي، دې ټکي ته پام نه کیږي چې په ټولنه کې څنډې ته وړل شوي ډشرونه ښايي دا توان ونه لري چې د ( نظریاتو په پرانیستي بازار) کې په ښکاره توګه خبرې وکړي او له ځانه دفاع وکړي. دوی ښایې د کرکه خپرونکو خبرو ښکار شي او رواني او آن جســمي ناوړه پایلو سره مخ شي.

کله چې بیان د آزادۍ او کرکه خپرونکو خبرو تر مینځ توپیر وشي، نو دې ټکي ته باید پام ولرو چې ټول تحقیروونکې ویناوې نفرت خپرونکې خبرې نه ګڼل کیږي. نړیوال حقوقی اسناد د بیان د آزادۍ د قانوني محدودیتونو لپاره لاربښـــودنې لري، په ځانګړې توګه هغه مهال چې خبرې یا نور نفرت اچوونکي اړیکې په یوه خاصې ډلې پورې تړاو ونیسي. د بېلګې په توګه، د مدني او ســـیاسي حقونو نړیوال تړون ICCPR د نورو اتباعو د امنیت د ساتلو، د ملي امنیت ساتلو، عمومی نظم ساتلو، او مشخصو اخلاقو په

پام کې نیولو په موخه د آزادۍ په بیان کې یو لړ مشروع محدودیتونه وړاندې کړي دي. ( ۱۹ مه ماده ) او له دولتونو یې غوښتي چې د قانون سره په مطابقت، ( له ملي کرکې څخه هر ډول ملاتړ، یا توکمیز او مذهبي ملاتړ چې تبعیض ته لمن وهي، یا تشدد د رامنځته کوي ) باید منع شي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان عمومی مجمع ۱۹٦٦ ) په همدې ترتیب، د توکمیز تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون په افکارو او نظرونو کې د نفرت یا تاوتریخوالي نښو په ګوته کولو سره د بیان د آزادۍ او د نفرت خپرونکو خبرو تر مینځ یوه بېلوونکې کرښه وړاندې کوي. یاد کنوانسیون، د توکمیز برتري یا توکمیز تبعیض پر بنسټ د نظرونو خپرول منع کوي، په ځانګړې توګه بیا د هر ډول توکم، ډلې یا بل قوم یا توکمیز وګړي پر وړاندې تاوتریخوالي ته لمن وهل په ټینګه توګه منع دي. ( د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان عمومی مجمع ۱۹٦٥ ).

د مدني او سیاسي حقونو نړیوال کنوانسیون او د توکمیز تبعیض د له منځه وړلو په اړه نړیوال کنوانسیون دواړه د بیان د آزادۍ لپاره د محدودیتونو په اړه مشترک یا ګډې لارښوونې لري. په ځانګړي توګه، دا کنوانسیونونه ټول توهین کوونکي خبرې نه محدودوي، اما له دولتونو غواړي چې د قانون جوړونې د اصلاحاتو له لارې د ژبې او ادبیاتو په چوکاټ کې هغه فتنه خپرونکو خبرو پر وړاندې مبارزه وکړي. په ټولیزه توګه، د نفرت خپرونکو خبرو او د بیان د آزادۍ ترمنځ د توپیر لپاره،اړینه ده چې یو شمېر ټکي پام کې ونیسو ترڅو دا وپیژنو چې کومې خبرې د نفرت اچوونې او تشدد د لامل ګرځي او که نه. په لومړي قدم کې، د یوې

خاصـــې يا ځانګړې خبرې محتوا ته پام په کار دی، دويم، هغه زمينه او موقع مالومول اړين دي چې خبره يا نظر ورکې وړاندې شـوی دی، دا ډول خبرې او مهال با يد په کره توګه تر څېړنې لا ندې ونيول شي. دا به هم څرګنده شي چې کرکه خپرونکې خبره چاته منســـوبه ده او ځانګړنې يې څه دي ( د بېلګې په توګه د يوې لړکۍ ډلې په توګه) چې په څه ډول له دا ډول خبرو څخه زيانمن کيږي، په پای کې، د تشـــد د د هڅولو لپاره په داسې حالاتو کې ښه وړاندوينه کيدای شي.

## د کرکه خپرونکو خبرو پايلې څه دي؟

که کرکه خپرونکې خبرې امنيت، برابري، ګډون، او انساني کرامت له ګواښ سره مخ کوي، کولی شي چې د انســـان بنســـټيز حقونه هم مات کړي. لکه څنګه چې لاندې وضـــاحت ورکول کيږي، نفرت خپرونکې خبرې کيدای شي ډېرې ناوړه اغيزې او تاوانونه ولري، له دې ناوړه پايلو څخه يې يو رواني ګو ښه توب دی، جسمی تشدد او آن ښايې د مرګ لامل هم وګرځي. ټولنيزه برابري چې د ولســـواکۍ اصـــل ګڼل کيږي، ښـــايې د کرکه خپرونکو خبرو په پايله کې زيانمن او کمزوری شي.

## رواني ګوښه توب:

که چې د نفرت خپرونکو خبرو قربانيان له حملې لاندې راشي، دوی هغه مهال د يادې ټولنې ځان اړوند نه بولي چې ورکې ژوند کوي. دا ډول خبرې دوی ګوښـــه کوي او دا وګړي داســـې احســـاس کوي چې ګويا د ټولنې د پرمختګ لپاره دوی ته هيڅ اړتيا نشـــته. به هغه صـــورت کې چې د کرکه

خپرونکو خبرو څخه ډډه ونه شي، دا دوی د خپل موقف د ســـاتنې یا کنټرول د ستراتیجی په توګه کاروي. په واقعیت کې، د کرکه خپرونکو خبرو عاملین ډېری وختونه د ټولنې د اکثریت پورې تړاو لري او په کلتوري او ټولنیز لحــاظ دوی د حــاکمیــت لرونکي وي. د کرکې خپرونکې خبرو قربانیان چې ډېری په لږکیو پورې تړاو لري، شــونې ده چې دوی فضـــاء، سرچینو، او فرصـــتونو ته د کم لاسرسي له امله د کرکه خپرونکو خبرو له عــاملانو سره مبــارزه ونــه شي کړی. دوی د دا ډول خبرو پر وړانــدې د مقاومت ډېر وس نه لري. د وخت په تیریدو سره دوی ګوښــه کیږي چې دا حالت د دوی په ژوند باندې ډېر ناوړه اغیز لري.
نړی د دا ډول تخریبوونکې پدیدې ډېرې بېلګې لري. لا تراوســـه د امریکا پــه متحــده ایــالتونو کې تور پوســـتي لــه توکمیزی نفرت سره مخ دی. (Laub۲۰۱۹) چې دې کار یې پر رواني، اقتصادي، عمومي ا ستازولی، او جسمي سلامتیا ناوړه اغیزې لرلي دي. افغان مهاجر هم په ایران کې د ښه وضــعیت خاوندان نه دي، او هلته د ایراني نظامیانو له لورې د اقتصــادي او کلتوري بې ثباتیو سره مخ دي، موږ ګورو چې ایرانیانو یو ځای او بل ځای لیکلي چې ( دې مارکیټ ته د افغانانو راننوتل منع دي ) یا (دې پارک ته د سپیو او افغانانو راننوتل منع دي). (Bezhan, 2019). دا ډول کرکجنې خبرې رواني زیــان رامنځتــه کوي او بنســـټیزو حقونو تــه د قربــانیــانو لاسرســـی له ګواښ سره مخ کوي. په وروســتیو کلونو کې، نړیوالې ټولنې د میا نمار په هیواد کې د راخین په ا یا لت کې د روهینګیا مســـلما نانو پر وړا ندې جنایتو نه او کرکجنې خبرې تایید کړي دي. و یل کیږي چې د

روهینګیا د خلکو پر دین ( اســلام ) باندې د حملو او ځپلو په پایله کې، په دې خلکو کې د مېیا نمار سره د مینې تړاو او د مینې احســـاس کم کړ. .(Laub, 2019)

د ملګرو ملتونو د نړیوال ســـازمان مختلفو بنســـټونو، چې له دې ډلې د بشری حقونو د عالی کمیشـنری د ۲۰۱۸ کال راپور هم دی، دا موضـوع یاده کړې چې له سپکاوي ډکې، د انسان ضد او کرکه خپرونکې خبرې که په هر ډول وشي، هغه که په مجازي او یا حقیقي فضـــاء کې وي، چې بشري حقونه تر پښو لاندې کوي او تبعیض او تشد د ته لمن وهي، ممنوع دي. OHCHR, 2018).

## فزیکی تاوتریخوالی:

کرکجنې خبرې کولی شي چې کله د تاوتریخوالي او شــخړې لامل شي، د فزیکي ز یان لا مل ګرځېدلی شي. لکه څنګه چې پورته یادو نه وشــوه، سیا ستوال او نور سیاسي فعالین کله ناکله د یوې ځانګړي لړکۍ یا ډلې پروړاندې د نفرت لرونکو یا کرکه خپرونکو خبرو څخه ګټه اخلي، چې پایله کې د تاوتریخوالي لامل کیږي او په دې بڼسټ د دو سی سیاسي د ستګاه غښتلې کیږي او له امله یې سیاسي ګټې لا سته راوړي. د بېلګې په توګه، په میانمار کې سیاستوال او د بودایانو مذهبي مشرانو په راخین ایالت کې د روهینګیا لږه کیو مســـلمانانو پروړاندې د توکمیز پاکولو د کمپاین د یوې برخې په توګه د ټولنیزو رسنیو له لارې کرکه خپرونکې خبرې خپرې کړې. (Laub۲۰۱۹ د نورو عواملو په منځ کې، کرکه خپرونکو خبرو په ۲۰۱۷

میلادي کال کې د روهینګیا مسلمانانو پر خلاف د وحشیانه تاوتریخوالي لامل شوچې په پایله کې یې ډېری شمیر مسلمانانو خپل ژوند له لاسه ورکړ او ډېری شمېر یې اړ شو چې نورو ګاونډیو هیوادونو ته پناه یوسي. د ملګرو ملتونو په څېر نور سازمانونه د دې غوښتونکي شول چې باید د دې نسل وژنې په اړه تحقیق ترسره شي او دا یې د نسل وژنې عمل یاد کړ. (OHCHR,۲۰۱۹).

په رواندا کې هم کرکه خپرونکې خبرې د ستراتیجي یوه مهمه برخه وه چې په ۱۹۹۴ میلادي کال کې یې نسل وژنې ته لاره پرانیسته . د RTLM په نوم راډیو چې ډېر زیات اوریدونکي یې لرل، د دولت د مشرانو په مرسته، د توتسي د لږکیو پر خلاف یې د هوتو قوم په تحریک کې لاس درلود. دوی به د اینینز ته ګونګټې او اینزوکا ته د مار خطاب کاوه. دا کار د شخړې لامل شو د هوتو قوم په خولیو، نیزو، میخ لرونکو لښتو، او نورو ابتدایي وسلو باندې مسلح ول کورونه یې د توتسي قوم د وژلو لپاره وپلټل (Ndahiro, 2019. په ښارونو کې، دولتي نظامیان، او نظامیانو ته ورته نورو غړو له انټراهاموی (Interahamwe) وسلو څخه چې حاکم ګوند پورې یې تړاو درلود ګټه واخیسته او د توتسي قوم د له منځه وړلو لپاره یې وکارول او سړکونه یې بند کړل. (Ndahiro, 2019). د قومیت د تشخیص لپاره یې اسانه لار د ملي پیژندپاڼو ښودل وو. د ۱۰۰ ورځو په موده کې [٦]

[٦] انتراهاموی به کسانی گفته می شود که باهم کار یا جنگ می کنند. یك گروه شبه نظامی و تروریستی افریقایی است که هم اکنون در جمهوری دموکراتیک کانگو و اوگاندا مستقر است.

نړدې یو میلیون کسـان چې ډېری یې توتسي- قوم پورې تړاو درلود ووژل شول. (Ndahiro, 2019).

## ټولنیز انډول له منځه وړل

کرکجنې خبرې زیانمن کسـان تحقیروي اود انسـانانو بنسـټیز حقونه او هغې ته لاسرســـی او ټولنیز برابروالی له منځه وړي. ټولنیز برابروالی په لیبرال دیموکراسي هیوادونو کې له بنسـټیزو اصـولو څخه ګڼل کیږي چې نه یوازې د ملي قوانینو په رڼا کې، بلکې د نړیوالو حقوقي تړونونو لخوا یې په ســاتنه ټینګار شــوی دی. نو په داســې حال کې، کرکجنې خبرې ټولنیز برابروالی له منځه وړي او د زیانمنو وګړو انسـانیت اغیزمن کوي. د کرکجنو خبرو سرلاري ځینې افکار لکه ټولنیزه نابرابري او دا چې دوی د اتباعو په توګه، له حقونو څخه په مناســبه توګه برخمن نه دي په ټولنه کې تلقینوي او دا کار د لیبرال دیموکراسي د روغتیا لپاره زیان رســوي، ځکه ټولنیزه برابري د لیبرال دیموکراسي بنســټیز اصــل ګڼل کیږي. د افغانستان شرایط د ټولنیزې برابرۍ د نقض یا د له منځه تللو یوه ښکاره بېلګه ده. دا هغه ځای دی چې ښـځې ورکې د نارینه وو پر وړاندې د کمي احســاس کوي.د کرکجنو خبرو ډېرې بېلګې شــتون لري چې د ښــځو حقونه یې ځپلي او د ښــځو پر وړاندې تاوتریخوالی ورکې په یو فرهنګ باندې بدل شوی دی.

یوه بله بېلګه، د دې لپاره چې په دیموکراتیکو پروسو کې ښځې د مشرانو او رهبرانو په توګه ونه منل شي او دهغوی پښــو ته تیږې واچول شي، د

نوماندو ښځو پر خلاف کرکجنې خبرې خپرېږي ترڅو هغوی وډارول شي او زړونه يې مات شي. يوه ارزونه چې په ۲۰۱۹ کال کې د ټاکنيزو نظامونو د نړيوال بنسټ IFES لخوا، د افغانستان د ښځو شبکې په واسطه ترسره شـوه، په هغې کې دا واقعيت تاييد شـوی دی. نوماندو ښـځو وويل چې دهغوی خصـوصي انځورونه چې حجاب يې پر سر نه درلود، د سـياسي مخالفينو له لورې راغورځول شـوي دي او يا په مجازي فضـاء کې هغه خپاره شـوي دي. په نورو مواردو کې، دهغوی انځورونه د غربي ښـځو پر انځورونو باندې ډيزاين شـوي وو. په افغانسـتان کې هغه ښـځې چې حجاب يې پر سر نه وي پروت، او دهغوی خصـوصي انځورونه ډيزاين او په نا مناسبو ځايونو کې خپاره شي په اخلاقي لحاظ ښه نه بريښي او دا حالت ښـځو ته نا آرامتيا پيدا کوي چې خپله پر ښـځو او دهغوی پر کورنيو ناوړه اغيزه کوي.

د نوماندو مېرمنو د انځورونو له خپرولو سره سره چې پر دوی باندې د حملې زمینه برابروي، په ټولنیزو رسنیو کې هم کرکجنې خبرې د دې مېرمنو د

> **د ټولنیزو رسنیو ویډیو (له پولو هاخوا کتنه) انسانیت پر ټولو ارزښتونو غوره ګڼي.**
>
> هغه مهال چې په ۲۰۱۶ کال کې کرکجنو خبرو د پناه غوښتونکو پر خلاف تاوتریخوالی راپورته کړ، د بخښنې نړیوال سازمان یوه ویډیو خپره کړه چې زموږ انسانانو ګډ صفات ورکې انځور شوي وو. دا ویډیو هغه پناه غوښتونکي چې تازه وارد شوي له هغو اتباعو سره ښیي چې په اروپا کې زیږیدلي دي. هرو دوه کسانو ته چې یو بل ته مخامخ ناست وو دنده ورکړل شوې وه چې د څلورو دقیقو لپاره یو بل سره د سترګو تماس وساتي. په ویډیو کې ښودل کیږي چې دا وګړي په دې څو دقیقو کې یو بل ته موسکي کیږي. دا بې خبرو ویډیو د انسانانو ګډ احساس منعکسوي او دا ښیي چې پولې د هیوادونو ترمنځ شتون لري خو د انسانانو ترمنځ نه.

کورنیو د ډارولو لپاره کارول کیږي. یوه نوماند میرمن وایې: پارلماني ټاکنو ته د دې له نوماندېدو وروسته، په ټولنیزو رسنیو کې مخالفینو دوی ته اخطار ورکړ چې ګویا لور به یې وتښتوي. ( دا ډول ادعاوې، یا دېته ورته ادعاوې، د نارینه نوماندانو پر وړاندې نه وې موجودې.

## رسنیز اخلاق او کرکجنې خبرې

په ملي او نړیواله کچه د قانوني محدودیتونو برسېره، اخلاقي موازین هم د یوې اغیزمنې تګلارې په توګه د کرکجنو خبرو، په ځانګړې توګه د غیرعمدي کرکې او تاوتریخوالي د خپروای په مخنیوي کې رول لوبولی شي. خبر یالان چې د مالو ماتو په خپرولو کې مهم رول لري، د اخلاقو ارزښت د دوی لپاره تر ټولو ډېر مهم دی. عمومي افکار د دې خبریالانو تر

اغیز لاندې راځي. په ۱۹۹۰ کال کې د بالکان جګړې، په روندان کې د ۱۹۹۴ نسل وژنه، او په ۲۰۱۷ کې د میانمار نسل وژنه پر عمومي افکارو د رسنیو د ښکاره اغیزو څرګندوی کوي. په افغانستان کې د طالبانو د رژیم له پرځېدو وروسته، رسنیو ډېره وده وکړه. د دیموکراسي په تازه راښکاره کېدو سره، د رسنیو لپاره نسبتا آرام چاپیریال رامنځته شو، د بیان د آزادي او رسنیو ته د خلکو د لاسرسي په برخو کې یو لړ پرمختګونه وشول. که څه هم د رسنیو پراخوالی، او په ځانګړې توګه ټولنیزو رسنیو د بیان له آزادۍ سره مرسته وکړه، خو په مقابل کې یې د کرکجنو یا کرکه خپرونکو خبرو لپاره ډېره زمینه برابره کړه. نو په دې بنسټ، رسنیز اخلاق یوه اړتیا وه چې خلک پرې باید پوه شوي وی. دا کار هغو رسنیو ته ډېر اړین وو چې په دې ډګر کې یې کافی تجربه نه لرله او ډېره شونتیا ترې لیدل کیده چې ښایې قومي او توکمیزو اختلافاتو ته لمن ووهي. نو پر دې بنسټ، خبریالان باید د سولې راوستلو لپاره ښوونه او روزنه ترلاسه کړي او د آزادیو په چوکاټ کې باید خپل رول او ژمنتیا ته پام وکړی او همدا راز په خپلو حقونو باندې پوهه ترلاسه کړي. دوی پرځای د دې چې د بیان له آزادۍ دا ډول ګټه پورته کړي باید د کرکه خپرونکو خبرو سره په مبارزه کې خپل رول، پوهه، او وړتیا ثابته کړي.

## نور اصطلاحات[٧]

| شمیره | مفهوم | تعریف |
|---|---|---|
| 1 | مالومات | سم مالومات یا پوهه |
| 2 | نـا ســـم مالومات | ناسم مالومات له خنثی موخو سره |
| 3 | زیـــانمـــن مالومات | واقعي مالومات له منفي موخې سره |
| 4 | نـا ســـم مالومات | ناسم مالومات له منفي موخې سره |
| 5 | جـــعـــلـــی خبرونه | ناســم مالومات له منفي موخې سره، له خپلي خوښـــې یا خنثی |

### اسلام او کرکه خپرونکي خبرې

قرآن کریم تر ټولو غوره لارښـــود کتاب دی چې مســـلمانان ورته په کړنو او خبرو کې مراجعه کوي. په داســـې حال کې چې په قرآن کریم کې د کرکه خپرونکو خبرو په اړه کوم صریح آیت یا نص نه دی راغلی، خو په مختلفو ډولونو سره له دې خخه یادونه شوې ده.

قرآن کریم تور یا تهمت ته اشـــاره کړې. دا هغه خبرې دي چې په دروغو باندې یو کس ته زیان پرې رســـیږي. دا ټکی ډېر تراو لري، لکه څنګه چې

[٧] UNESCO.n.d. "Journalism, 'Fake News and Disinformation: A Handbook for Journalism Education and Training," United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization, https://bit.ly/2K9Y2Ow.

پورته ا شاره و شوه، اوس هم، ډېرى وختونه د تور لګولو او نا سمو مالوماتو په خپرولو سره ځينې ډلې يا تحقيريږي او يا هم څنډې ته وړل کيږي، يا ډېرى وختونه داسې خبرونه خپريږي چې دهغې سموالى مالوم نه وي او له مخې يې په ځينو خلکو باندې تور لګول کيږي چې په پايله کې په قصدي يا غير قصدي توګه د خلکو اعتبار ته زيان رسيږي.

د تور لګولو په اړه د قرآن کريم په څو ايتونو کې خبرې شـــوي دي، چې له هغې ډلې د ښـځو او نارينه وو تورنول دي (د بېلګې په توګه په ۳۳ سـورت او ۵۸ مبارکو آيتونو کې) او همدا راز (د ۴ ســـورت په ۲۰ آيت کې او ۲۴ سورت له ۴ آيت څخه تر ۲٦ آيت پورې ) په تفصيلي توګه پر ښځو د تور لګولو په اړه بيان شوى دى. وروستى ايت دا هم دى چې هغه کسان ورکې محکوم شـــوي چې يو کس بل څوک تورنوي او هغه يې په آســـانۍ سره دا تور مني. دا حالت له هغو کســـانو سره برابر دى چې په بيړې سره داســـې مالومات خپروي چې ښايې هغه سم نه وي او په پايله کې نورو کسانو ته ز يان ورســـوي. آن د ۱۰۴ ســـورت عنوان د ( الهمزة ) په نوم دى، يانې تورلګوونکي او تحقيروونکي. په دې آيت کې هغه کســـــان رټل شـــوي او هلاکت ورته ويل شـــوى چې په نورو کســـانو باندې تور لګوي يا يې غيبت کوي. دلته د يو څو هغو آيتونو يادونه کوو چې د تور په اړه بيان کوي:

"هغه کسان چې مؤمنې ښځې او نارينه باندې د دا سې کارونو تور لګوي چې هغوى نه دى کړى او هغوى ته آزار ورکوي، دوى په حقيقت کې ســـتر بهتان او ستره ګناه کړې ده " (سوره ۳۳، آيه ۵۸)

١- "او که تاسې اراده لرئ چې يوه ښځه پر بله بدله کړئ او له دوی څخه مو يوې ته يوه اندازه مال ورکړ نو له هغې څخه هيڅ شــــی مه اخلئ، تاســـې چې هرڅه ترې اخلئ نو حتما د تور لګولو له لارې او په ګناه اخلئ.؟" (سوره ٤، آيت ٢٠)

٢- "هغه کسان چې په دنيا کې په پاک لمنې ښځې او ناخبره ښځې تورنوي، دوی ته به آخرت کې دروند عذاب وي – په دې ورځ به د دوی ژبې او پښې د دوی د هغو اعمالو ګواهي وړاندې کوي چې دوی يې مرتکب شــــوي دي. په دې ورځ به دوی ته الله واقعي جزاء ورکړي." (سوره ٢٤، آيات ٢٣ الی ٢٥)

٣- "هلاکت دې وي هر دروغجن او عيب لټوونکي ته ! " (سوره ١٠٤، آيت اول)

هم مهاله، قرآن کريم په قوميت او کلتور کې د انســــانانو د برابرۍ په اړه صراحــت لري. کلتوري بېلوالی او توکميزی جلاوالی پــه الهی حکم کې شتون لري او موخه يې ترې همداده چې دا اصلونه غني اوانساني تجربې انتقال شي. لاندې د دې يوڅو بېلګې راوړو:

- "ای خلکو ! ما تاسې له يو نر او ښځې پيدا کړي ياست او تاسې مې قومونه او قبيلې ګرځولي ياســت ترڅو يو بل ښــه وپيژنئ ! له شــکه پرته، تاسې کې غوره هغه څوک دی چې ډېره تقوا ولري. " (سوره ٤٩، آيت ١٣
- "په تحقيق سره موږ انســـانانو ته کرامت ورکړی او دوی مو د عقل په برکت سره په وچه او ســـمندر کې ســـپاره کړي او دوی ته مو پاک رزق

ورکړی او په ډېرو هغو چې موږ پیدا کړي دوی ته مو ورباندې غوره والی ورکړی دی. " (سوره ۱۷، آیت ۷۰)

په دې آیتونو کې روښــانه کیږي چې د انســانو غوره والی دهغه توکم، قومیت، ژبې، مذهب، قبیلې او داســې نورو ته په کتو نه ده، له هرډول تعصــب او تبعیض پرته دوی د حیثیت لرونکي دي. دې آیتونو په ضــمني توګه انســانانو ته د دې مواردو له امله د زیان رســولو منع کړې ده هغه که په عمل وي او که په خبرو. کله چې په مدینه منوره کې لومړی جومات جوړ شو، یو تور پوستی انسان چې بلال بن رباح رضی الله عنه نومېده د محمد صــلی الله علیه وســلم له لورې د لومړني مؤذن په توګه وټاکل شــو، نوموړی یو مهــال مریی ( غلام ) وو، خو د پیغمبر ع دا کــار د ټولنیزو- اقتصــادی او توکمیز توپیرونو له منځه وړلو لپاره یوه غوره بېلګه ده. نورې کړنې یا بېلګې چې ټولنیزې- اقتصادي او جنسیتي توپیرونه یې له منځه وړي دي، هغه دا چې اســـلام هغه خدمتګارانو او غلامانو سره د واده کولو لاربښوونه کړې چې هغوی نېک او صالح کسان وو. (سورهی ۲٤، آیهی ۳۲) د قرآن کریم د لاربښوونو پر بنسټ، ګڼو رسمي او ا سلامي سازمانونو کرکه خپرونکې خبرې منع کړې دي. د قاهرې اعلامیه چې د بشرــي حقونو په اړه وه CDHRI)[8] د عقیدې آزادي او دا حق چې هرڅوک د دین او مذهبي

[8] اعلامیه قاهره درمورد حقوق بشر در اسلام بیانیه کشورهای عضو سازمان همکاری اسلامی (OIC) است که در ۵ آگست ۱۹۹۰ در قاهره، مصر تصویب شده ا ست. این اعلامیه نگاهی بر دیدگاه ا سلامی در مورد حقوق

مرا سمو په ترسره کولو کې آزادي لري په رسمیت پیژني. د دې اعلامیې پر بنسټ، هیڅوک حق نه لري چې د کرکجنو خبرو له لارې د نورو ادیانو پر پلویانو فشار وارد کړي د دې اعلامیې ۲۲ مه ماده وایي چې د یوې ټولنې لپاره مالومات یا اطلاعات حیاتي ارزښت لري، خو نه باید له دې څخه ناوړه ګټه واخیستل شي ترڅو د پیغمبرانو حیثیت او اخلاقي ارزښتونه تر پښو لاندې شي. مالوماتو ته د لاسرسي له حق څخه د دفاع په څنګ کې، دا ماده د کرکه خپرونکو خبرو څخه له ګټې اخیستنې سخت ممانعت ښیي او د دې په مخنیوي خاص ټینګار کوي. (Alzahrani, 2017).

سربیره پر دې، د سعودي عربستان د علماوو عالي شورا د هغو کرکه خپرونکو خبرو چې ترهګر یې کاروي یادونه کوي او له دې خبرو څخه خلک منع کوي. د ترهګرو ( القا عده، داعش او داسې نورو ) د خلکو د همغږي کولو او دهغوی د مغزو د مینځلو یوه وسیله همداده چې له کرکه خپرونکو خبرو څخه ګټه اخلي. نوموړې شورا له فتوا څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په اړه بیان ورکړی، او په ۲۰۱۴ میلادي کال کې یې یوه اعلامیه خپره کړه او دا یې روښانه کړه چې هیڅوک اجازه نه لري چې له کافي پوهې پرته داسې فتوا صادره کړي چې له مخې یې ترویزم غښتلی ( تقویه ) شي. Alzahrani, 2017. له دې سره سره، د کرکجنو یا کرکه خپرونکو خبرو هر اړخیز تعریف، نه د قرآن کریم په آیتونو کې وجود لري او نه د اسلامي رسمي سازمانونو له لورې وړاندې شوی دی، چې دا کار کولی

---

بشر می پردازد و شریعت اسلامی را یگانه منبع خود می داند. اعلامیه مذکور هدف خود را "راهنمایی عمومی برای کشورهای عضو [سازمان همکاری اسلامی] در زمینه حقوق بشر" اعلام می کند.

شي د بیان د آزادۍ، د عمل او فکر او مذهب د آزادۍ د له منځه وړلو عامل شي.

# دوهمه برخه: په افغانستان کې کرکجنې خبرې

## (نفرت لرونکې خبرې)

د افغانستان ټاکنو پر وړاندی یو بنسټیز ستونزه د کرکجنو خبرو خپراوي ده، هغه ســـتونزي چې د ټاکنو په ورځنې چارو باندی بد اغیزه لري او ریښـــې یی تر ډیره د ټاکنو لړی د ســـتونزو سره مخ کوی، هغه د ځیني دا سې وکړو شتون دی؛ چې د خپلو شخصی کټو په پار کرکجني خبرې ولسونو ته وړاندی کوی ښه بیلگه یی ویلی شو په ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کلونو کې مونږ ولیدلو چې ځیني اشـخاص او افراد په تیرو ټاکنو کې داســی بی بنسټه نیوکي کولی چې د ټاکنو لړی او سیا سی بی ثباتی ته یې په لوې لاس لمن وهلو د دغو اشـخاصـو بنسـټیزه کړنه دا وه چې دوي خلکو ته د احساساتو ډکې خبرې د قومیت،ژبي،مذهب او گوندی ړلتیا په ا ساس تر سره کولي او د ولس د پاکو احساساتو څخه به یی منفی گټه پورته کوله او دغه چاره او خبرې بیا په زیاته پیمانه په هغه نومانددانو کې تر ســـترگو کیده چې دوی بایلونکي نوماندانو په لړ کې ولاړ ول. مونږ او تاســـې د دی شـــاهدان یو چې د افغانســـتان د جزا کوډ په څرگنده الفاظو کې دا یې په ډاگه کړئ چې هیڅ څوک نشې کولی چې د ولس د پاکو احساساتو څخه د قوم، ژبی، مذهبی، نژادی او ســیمیزتوب په اســاس منفی گټه پورته کړي او د دوی احســاســات راوپاروي چې دغه چاره په ښـکاره ډول غیر معقوله کړنه گڼل کیږی، بیا تاســـې په تیرو ټاکنو کې به لیدلي وی چې د ځینو

نوماندانو لخوا دغه کړنه په ډیر ښکاره ډول تر سره کیده خو مسؤلو ادارو هیڅ راز اقدام د دوی پر وړاندی نه دی تر سره کړي.

**حقوقی چوکاټ:**

په افغانســتان کې د کرکجنو خبرو دودیدو سره سره تر اوســه پوری د دی هیواد په ا سا سی قانونو کې د خلکو ترمنځ د کرکي رامنځته کول د جرم په توگه نه دی پیژندل شوی د اساسی قانون د ۷ مادی په اساس افغانستان دولت ژمن دی چې بشري نړیوال حقوقی ا سناد پلې او رعایت کړئ. مونږ یی بیلگه ویلی شو چې د بشر حقونو نړیوالی ویناپاڼې باید په یاد هیواد کې رعایت شي. د دی سربیره چې دغه ویناپاڼې نه دی عملی شــوی تر اوســـه پوری د کرکجنو خبرو د خپاروی او ترسره کیدو د جرم په توگه د پیژندلو لپاره هیڅ راز اقدام نه دی شــوي، د دی ترڅنگ ځینو هیوادونو په مســتقیم ډول د کرکجنو خبرو خپاروی او د دی خبرو څخه گټه پورته کول منع گرځولی دی.خو د افغاندستان ا سا سی قانون دی ته یی ا شاره نه ده کړی چې هغه ډلې چې کرکجن الفاظ او خبري په ټولنه کې خپروی باید دوی ته یو اندازه مجازات په نظر کې ونیول شي چې همدغه یی علت دی چې په ټولنه کې د فزیکی شــخړو او قبیلوی ســتونزی د پراخیدو ســبب گرځې. مونږ یو بیلگه تاســـې ته راوړلای شـــو چې د جنوبی افریقا په ا سا سی قانون کې یادونه شوی ده چې د بیان آزادی د ټولو حق دی؛ خو دوی نشي ـ کولی چې خلک جگړې، زورزیاتي ته وهڅوی او قومیت، مذهب

او جنیست ته د کرکجنو خبرو په وا سطه راجلب کړي؛ یعنی دغه چاره که تر سره شي غیر قانونې عمل بلل کیږي.(IFES, 2018).

د افغانستان اساسی قانون کې د بیان پر آزادی هیڅ راز بندیزونه نشته. د افغانســتان اســاســی قانون ۳۴ ماده وضــاحت لري چې پر بیان ازادی باندی هیڅ راز بندیز شــتون نلری او د بیان پر ازادی تېری کول منع ده د اســاســی قانون په رڼا کې هر شــخص د بیان د ازادی حق لری که هغه د وینانو په قالب کې وی، په لیکلي بڼه، انځوریز بڼه وی او یا د نور لارو کولای شي خپل د نظر ځرګندو نه وکړي. (د جمهور ریس دفتر۲۰۰۴)د اســاســی قانونو ۲۴ مادی تر ځنګ ټینګار کوی چې د بیان آزادی د هر چا حق دی خو دا سی نه چې د بل چا آزادی پکې تر پښو لاندې شي؛ او یا د هیواد پر عمومی وضعیت باندی بده اغیزه وکړي. د وګړو آزادی او انسانی کرامت د تعصــب څخه باید خوندی وی. دولت باید د انســانانو کرامت ته درناوی وکړی او د هغوی کرامت د خوندی ساتلو لپاره باید تل رغنده رول ولوبوې.

(د ولسـمشرـ دفتر۲۰۰۴) د افغانسـتان اسـاسـی قانون دا زیاته کړی چې هغه نظریات او خبرې چې د ملی او اجتماعی انسجام ته تاوان رسوی په مستقیم ډول منع کړې دئ. بیا حکومت مجبور دی چې هغه خبرې چې د هیوادوالو اســاســی حقوق یعنی د دوی د خوندیتوب او انســانی کرامت ته زیان رسوی باید قانونی کړنې د هغه وګړو سره تر سره شي.

د افغانستان د جزا کوډ په ښکاره ډول وضاحت لری چې هغه خبری چې د مذهبی اړیکو، نژادی، قومی، ژبنې او سـیمیزي سـتونزی زیږوي دغه خبرې یی منع کړئ دي.د بیلگې په توگه: د جزا کوډ ٢٥٦ ماده حکم کوی چې هغه شخص چې یو بل شخص د مذهبی تبعیض، نژاد، قوم، ژبنې او یا سـیمه ایز تحریک ته دعوت کړي نو دغه شـخص په منځنې حبس د یو کـال نـه تر پنځو کلونو پوری محکوم د مجـازاتو شـمیرل کیږی.د دی ترڅنگ(د افغانسـتان عدلی وزارت٢٠١٧) د جزا کوډ٦٧٨ ماده ټینگار کوي هغه شـخص چې یو بل فرد په تحقرونکې او یا سـپکونکې کلیماتو تروړې کوی دغه شـخص خپله د سـپکاوی او توهین تلقی کیږی بیا دغه قانونو زیاتوی چې د جنسـیتی، معلولیت لرونکې وکړې او یا سـیاسـی کرکجنی خبرې د افغانستان په جامع ډول رانغاړلی دی.

سربیره پردې، ٢٠٠٦ کال د جون ٥ مه نیټه د افغانستان د ډله ایزو رسنیو قانون د رسنیو او نشراتو تنظیم لپاره تصویب شو (پژواک خبري اژانس، ٢٠٠٦). د قانون له مخې، په افغانستان کې رسنۍ د هغه څه لپاره مسؤلې دي چې دوی یې خپروي. د مثال په توگه، د ٤٥ مادې پراسـاس، د افغانسـتان ډله ایزې رسـنۍ باید د هغه کارونو او خبرونو خپرولو څخه ډډه وکړي، چې مذهبو نه او د مذاهبو پیروان ځوروي (مقا له ٤٥: ٢). د افغانستان د جزا قانون په اساس، بدنامي او نفرت لرونکي څرگندونې چې د حقیقی اوحقوقی اشخاصو او یا حکمی اشخاص اعتبار ته زیان رسوي دغه کړنه په غیر مشروع عمل او جرم شـمېرل کیږي، (د پژواک خبري

اژانس، ۲۰۰٦).، هغه فعالیتونه چې جنســـی، ژبني یا قومي تاوتریخوالي ته وده ورکوي او تقویه کوي هیڅ راز څرګندونه نه دی کړی.

په ورته ډول، د افغانســتان د سـیاسي ګوندونو قانون چې ځینې نیمګړتیا هم لري، نه باید سیاسي ګوندونه په هغه فعالیتونو کې ښکیل نه شي چې مذهبي او قومي تاوتریخوالي سبب ګرځې. د سیا سی ګوندونو قانون د ٦ مادې پراســاس، سـیاسي ګوندونه باید توکمیز او مذهبي تاوتریخوالی ته لمن ونه وهئ بیا (افغانســتان د عدلیې وزارت، ۲۰۰۹). به څرګند ډول وضــاحت لری چې هیڅ یو نوماند د د دې حق نلری چې په ټاکنیزو مبازو کې د قومیت، نژاد، مذهب، ژبه، جنسیت او نور غیر قانونی لارو په واسطه د کمپاین په وخت د پورتنې عوامل څخه د هڅونکي وســیلې په توګه کار واخلئ. (د ټاکنو خپلواک کمېسیون، ۲۰۱٤).

ټــولــنــیــزې رســـــنــی؛ د کرکجنتوب د خــــپـــرولـــو وســــېلې پــه توګه:

> په کینیا هیواد کې "له دي څخه غوره" تر عنوان لاندی د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې کمپاین په لاره اچول شوی وه.
>
> په کال ۲۰۱۷میلادی کې ملي ټاکنو دمخه، د مدني ټولنې بنسټونه، رسنیو او د ټاکنو خپلواک کمېسیون " له دي څخه غوره " کمپاین پیل کړ، چې په دغه کمپاین کې آنلاین ویډیوګانې او الهام بښونکې پیغامونه، جنیست او انتخاباتي تاوتریخوالي پر بنسټ د نفرت بیانونو سره مبارزه شعارونه یی په خپل سیاست په نشر سپارل کیده.دغه کمپاین ملیونه زیاتو خلکو ته رسیدلی، چې د ښځو په وړاندې د انتخاباتي تاوتریخوالي د مهمې موضوع په اړه د عامه پوهاوی

ټکنــا لوژ یکې بــدلــونــونــه او خــلــکــو تــه د

اختیاراتو ورکړه بښــیګنې او ننګونې لرى، خو په انټرنیټ پورې اړوند یو له ډیرو ا ندیښـــنو څخه په انټرنیټ او ټولنیزو رســـنیو کې د نفرت او تیر ایستونکو خبرونو خپرول دي، لکه د فېسبوک، ټویټر او انسټاګرام.

په افغانستان کې، انټرنیټ ته لاسرسی د طمع خلاف ډیر پرمختګ کړی او دې چارې ټولنیزو رســنیو ته د خلکو لاسرسي اړیکې او معلوماتو ته لاسرســی اســانه کړي دي. په هر حال، ډیری ډلې، ســیاســتوال او د دوی ملاتړ کونکي ډیری وختونه د خپلو فعالیتونو د منفي پایلو په اړه د لږې اندیښــنې پرته، د خپلو ګټو پرمخ وړلو لپاره د کرکه خپرونکي ویناوو ته وده ورکوی او له کومې اندیښــنې پرته یې خپروي. ټولنیزې رسـنۍ د سـیاسي ا شخا صو او افغان وګړو تر مینځ د شخړو په یو ډګر تبدیل شوی دی، په ځانګړي توګه په مهم وخت کې د ټاکنو د کمپاین په جریان کې. فېسبوک د کاندیدانو او د دوی ملاتړ کوونکو لپاره د دوی د کمپاین پیغامونو خپرولو لپاره یوه ښــه وســیله ده چې دوی هیڅ ډول ډار پرته د نورو نوماندانو شخصیتونه تروروي او د هغوی د سپکاوی سبب ګرځي.

د دې پیغامونو مینځپانګې اکثرا یو اړخیزه فضا رامینځته کوي او د قومی او ژبني تاوتریخوالی د زیاتیدو سبب ګرځي.

**په افغانستان کې د کرکجنو خبرو مشهور ډولونه:**

**۱. د جنسیت پراساس د خبرو څخه کرکه:**

په تیرو دوه لسـیزو کې، افغان میرمنو، د نړیوالې ټولنې په مرسـته، د سـیاسـت په ګډون په مختلفو برخو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی. دوی اوس په مختلفو دولتي او غیر دولتي ادارو او په مختلف دندو بوختې دي او فعالیت کوي، او یا هم شخصي کاروبار اداره کوي. په هرصورت، اوسني و ضعیت د میرمنو راتلونکي پرمختګ لپاره ځانګړي محدودیتونه رامینځته کړي. وسله والې شخړې، ښځې یو بل نه زغمل(فیمنسټ)، کلتور ستونزی د جنسیتي تاوتریخوالي او هڅول. ښځې لاهم ګواښل کیږي، ډارول کیږي، ځورول کیږی او حتا وژل کیږی. همداراز له جنسيـ ځورونو او یو شـمیر تخریبي څرګندونو سره مخ دي په بل عبارت، د افغانسـتان په ټولنه کې میرمنې نه یوازې د دوی د سیاسي ګډون یا پرمختللي فعالیتونو له امله په ذښه شوي، بلکې د دوی د میرمنوالي له امله هم په ذښه شوي؛ دا له دې امله څرنګه چې د دوی سـیاسي فعالیتونه وده کوي، نو د ټولنې د وګړو نفرت د زیاتوالی سره مخ کیږی.

پدا سې حال کې چې په افغانستان کې د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی او کرکجنې خبرې په زیا ته پیمانه شـتون لری، نو دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې په افغانستان کې د جنسیت پر بنسټ د کرکې خبرې د ښځو ویرولو او د کاری چاپیریال څخه د ښځو ګوښه کول او د عمومی مشارکت مخه نیسـې. دا په ځانګړي توګه د سـایبر ځورونې(د انټرنټ له لاري

ځورونه) په برخه کې صدق کوي کوم چې دمخه په ښځینه نوماندان او د هغوی په کورنیو باندې د سـایبر بریدونو مثال په توګه یاد شـوی دي. په افغانستان کې ډیری سړي ښځو ته ګوري او دوی ناقص العقل(نیمګړی) بولې (محمد رحیمي، ۱۹۹۱، ۷). دا پدې مانا ده چې په افغانسـتان کې ډیرو نارینه ګانو لپاره ښـځې په طبیعي توګه د نارینه وو په پرتله لږ ظرفیت او وړتیا لري. د ښـځو دې نظر له اوږدې مودې راهیسـې په هیواد کې د ښـځو سـیاسي او ټولنیز ګډون اغیزمن کړې. په افغانسـتان کې د فیمینسـټ(میرمن ځورونې) بل بیان دا دی چې ډیری افغان نارینه خپلو مخالفینو ته د سـپکاوي لپاره د "ښـځې" کلمه کاروي، کوم چې د "بزدل" کلمې سره مسـاوي دی (محمد رحیمي، ۱۹۹۱، ۷). د دودیزو افغـاني انګیرنو له مخې، میرمنې په طبیعي ډول د خلکو په ژوند کې د ګډون پرځای د کورونو کارونو ته ګمارل شـوې دي. دوی د "کور کار" او "عامه چارو" تر مینځ کرښه راښکاره کوي، چې له دې امله ښځې د کور د کارونو ترسره کونکې او نارینه د عامه چارو ترسره کونکي بلل کیږي.

د ښځو پرووړاندې د کرکې د بیان یوه بله بیلګه شخصیت وژنه ده چې بیا ځینې وخت قصداً د دوی شهرت او شخصیبت د ځپلو لپاره ځینې وګړي کار تر سره کوي. دا هغه وخت ډیریږي کله چې یوه میرمن ځان د یو نوماند په توګه راڅرګند کړي او یا په ټولنیز او سـیاسي حلقو کې خورا شهرت پیدا کړی. د مثال په توګه، موندنې ښیې چې سیاسي مخالفین د ښځینه نوماندانو شخصي انځورونه په ټولنیزو رسنیو کې په دا سې بڼه

په نشر سپارې تر څو د هغې ښځینه نوماندې بد تصویر خلکو ته وړاندې کړي نو کله چې په حقیقت کې وګورو دغه انځورونه به په یو خاص وسیله ایډېټ شــوي وي او هیڅ راز حقیقت به نلري (IFES، ۲۰۱۹). په دودیزه افغاني ټولنه کې، د ښـځو، په ځانګړي توګه د نیم سـیاسي یا لویدیز ډوله جامو کې د ښځینه سیاسي فعالینو د عکسونو خپرول یوه لویه ننګونه ده چې د دوی سیاسي مخالفین اکثرا د فشار د یوې وسیلې په توګه کاروي. د مثال په توګه د ۲۰۱۸ کال کې یو داسې بې بنسټه غږ په ټولنیزو رسنیو کې خپاره شــو کوم چې په هغه کې ښــودل شــوی ول چې دا د پارلمانې ټاکنو یو نوماندی لور ده او دوی په غیر اخلاقی اعمالو کې ښــکیل دی ځینو کســانو غوښــتل د دغه وســیلې څخه ګټه پورته کړي او د نوموړي نوماندی په اړه د خکلو اذهان بل لورې ته واړوی اما د دغه شـــان کړنو تر سره کول د ښـــځو د پرمتختګ او د هغوی د حقونو تر پخو لاندی کولو یو بیلګه ده (IFES، ۲۰۱۹). دغه حالت په افغانســـتان کې د ښـــځو ډیر زیان لیدونکی وضعیت ښائي. سربیره پردې، ښځینه لوبغاړې او سندرغاړې د کرکجنو خبرو سره مخ کیږي. له ۲۰۰۱کال راهیســې په افغانســتان کې یو زیات شمیر میرمنو سندرو، هنر او سینما ته مخه کړې، چې د افغانانو له بیلابیلو غبرګونونو سره مخامخ شـــوي دي. ځینې خلک د میرمنو دغه چاره په ښه نیت بولي او هنرونو او سینما ته د ننوتلو لپاره د دوی ستاینه کوي، مګر د دوی مخالفین دوی د "فحشـــا" خپرولو په تور بدنامه کوي چې دوی ولې په تلویزیون کې سندرې وایی او ولې د غرب په جامو کې په رســـنیو کې را څرګندیږي (حکیمي او نیکال، ۲۰۱۹). دا ټکي نه یوازې د

ښـــځینه لوبغاړو او هنرمندانو په وړاندې کارول کیږي، بلکې د ښـــځینه فعالانو او سیاست پوهانو په وړاندې هم کارول کیږي.

## ۲.د قومیت په اساس تاوتریخوالي او کرکجنی خبرې:

افغانانو د قومي شخړو له امله لوړه بیه او مړي ورکړې دي. د کورنۍ جګړو پر مهال له ۱۰۰،۰۰۰ څخه ډیر کســـــان وژل شـــوي. د ۱۹۸۰ کلونو په وروســـتیو کې له افغانســـتان څخه د شـــوروي ځواکونو تر وتلو وروســـته کومې شخړې چې د توکمیزو توپیرونو وروسته راپورته شوې په دغه وخت کې (احمد او ظهور، ۲۰۱٤). وایی! په تیره موده کې د توکمیز او له سپکاوي ډک شـــعارونو پراســـاس د کرکجنو ویناو د ډیریدو یو لامل وو. ځکه چې دا دواړه پدیدې یو بل خورا غښـــتلې کوي. په ۲۰۰۱کال کې د طالبانو د رژیم له رانســـکوریدو او د بشـــري حقونو د ارزښـــتونو پر بنســـټ د نوي نظام په رامینځـته کیدو سره، د بیلابیلو قومي ډلو ترمینځ شـــخړې او توپیرو نه نسبتا کم شوي. په هرصورت، د توکمونو پر بنسټ تبعیض او تاوتریخوالي لاهم د دیموکراتیکې فضا رامینځته کولو کې جدي خنډ دی. په افغانستان کې ډیری فعـال تلویزیونونـه او راډیو چینلونـه د توکمیزو حـدونو او سرحدونو پرا ساس دي. د دغو شبکو هر یو د دوی قومي مشرانو ستاینه کوي او خپل قومي ارزښـــتو نه خلکو ته تر نور ښـــه معرفی او هڅوي. همدارنګه، په هیواد کې ټول سیاسي ګوندونه د قومي سرحدونو پر بنسټ رامینځته شـوي، او هر یو یې د خپل ګوند او قومي ګټو سـاتلو لپاره هڅې ګړندي کړې.

د ۲۰۱۴ کال سیاسي کړکیچ وروسته، توکمیز فلسفه یو ځل بیا د بیلابیلو توکمونو او بیلابیلو سیاسي کچو تر منځ واو ښتله. ځکه چې په واک کې د خلکو توکمیزو کړنو او د کرکجنو خبرو کارولو سیاسي بهیر زیانمن کړ. د افغانستان د پارلمان د غړو ترمینځ د توکمیزو خبرو رامینځته کیدو د خلکو تر مینځ د زغم چارې ته زیان اړولی؛ دوی د ټولنیزو رسنیو له لارې د یو بل په وړاندې د توکم پر بنسټ د کرکې بیان کارول پیل کړل. د بیلګې په توګه، د خلکو تر مینځ ماتیدونکی ملي یووالی نور هم زیانمن شو.

د ۲۰۱۴او ۲۰۱۹کالونو کې دوه ولسمشریزې ټاکنې تر سره شوی چې په تیرو دوه لسیزو کې تر ټولو د ننګونو ډکې ټاکنې وې. د ټاکنو د پایلو په اړه ناندریو او د پراخه درغلیو مسلې د دې پروسې مشروعیت تر پوښتنې لاندې راوستی وو. په هغه شرایطو کې دوه مخکښ سیالان او د دوه دورو پرلپسې نوماندانو، محمد اشرف غنی او عبدالله عبدالله هیواد کې سیاسي کړکیچ پراخ کړ. د دوی ملاتړ کونکو ټولنیز میډیا د توکم او ژبې پراساس د یو بل په وړاندې د کرکې بیان کارولو لپاره تر هر وخت نور یو بل ته به یی د کرکې ډکې خبرې او نیوکې درلودلې. د مثال په توګه، د ولسمشر لومړي مرستیال، امرالله صالح په خپله فیسبوک پاڼه کې د هزاره ګانو پرووړاندې توهینونکي او توکمیزې څرګندونې خپرې کړې، چې د دی دغه کار د پراخ عکس العمل او د خلکو د غبرګون سر مخ شو. د هزاره ګانو قومي مشر محمد محقق، د امرالله صالح د لفظي برید په وړاندې غبرګون څرګند کړ: "د غنی ټاکنیزه ډله باید پوه شي چې غرور په علمیت نه، بلکې

په اخلاقو او انســـانیت پورې اړه لري" (پژواک، ۲۰۱۹.). سربیره پردې، د یوناما د راپور په ا ساس په کال ۲۰۱۹ میلادی کې د ولسمشرۍ ټاکنو په جر یان کې، د ټاکنو خپلواک کمیســـیون غړي مولا نا عبدالله د ټاکنو خپلواک کمېســیون یو تن کارمند ته د مرگ گواښ ترڅنگ د هغې قومیت ته په عام مضحر کې سپکاوی وکړ. (افغان غږ، ۲۰۱۹.).

لکه څنگه چې د بین الافغانی خبرو اترو دوام او د کرونا اوبا ټولو خلک د گواښ سره مخ کړي، د افغانســتان لپاره د ملگرو ملتونو ځانگړي اســتازي، ډیبرا لیونز پــه افغــانســـتــان کې د کرکجنو خبرو او غلطو معلومــاتو د خطرناکو پایلو خبرداری ورکړ. د میرمن لیونز په وینا، تاوتریخوالي او نورو ناوړه فعالیتونو ته هڅول بشرـي حقونو نړیوال ارزښــتونه تر پښــو لاندې کوي او کولی شي افغانان د یو بل په وړاندې جگړې ته وهڅوي او د سولې هڅې زیانمن کړي (د آسیا زړه، ۲۰۲۰).

پــه ورتــه ډول، د جوگي او بنگړیوالان(چوری فروش) پــه نوم یوه کوچنۍ اقلیت ډله چې په عمده ډول د کابل او شـــمالي ولایاتو په اوږدو کې ژوند کوي اکثرا د یو شـــمیر خلکو لخوا د توتریخوالیو سره مخامخ کیږي. ځکه د دغو توکمیزو لړکیو په منځ کې، نارینه معمولا د کورني کارونو مســـؤلیت لري، مگر د دوی میرمنې د کور څخه بهر د خپلو کورنیو د ژوند د بقا لپاره مختلف کارې کړنې تر سره کوی ځینی و خت خلک دوی ته د کرکې او توتریخوالی ډکې خبرې کوی چې تا سې جوگي او بزدل قوم یا ستی نارنه مو کور کې دی تاسې ښځې کار کوي.

**۳. د معلولیت لرونکو وکړو په وړاندې د تاوتریخجنو خبرو کول:**

په افغانســـتان کې د څلور لســـیزو کورنۍ جګړې ویجاړونکې پایلې لرلي، لکه خوارځواکی، روغتیا ته د پاملرنې نشـــتون د زرګونو معلولینو لامل شـوی. که څه هم په هیواد کې د معلولیت لرونکو خلکو دقیق ارقام شـتون نلري، مګر د ۲۰۱۹ اټکل کیږي چې په افغانســـتان کې نږدې دوه ملیونه خلک له سـختو او نیمه سـختو معلولیتونو سره مخ دي (د آسـیا بنسـټ، ۲۰۱۹). وایی چې د دې وګړو په وړاندې ټولنیز تاوتریخوالی او تبعیضي‌ــ چلند په سیاسي او اقتصادي پروسو کې د دوی برخه اخیستنه محدوده کړې.

په ۲۰۰۸کال کې، د افغانستان د کار، ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت د معلولیت لرونکو وګړو لپاره د عمل ملي پلان جوړ کړ چې په دغه پلان کې د معلولینو حقوقو او اړتیاوو د ته د رسیدنې ملی پلان جو کړ چې په دغه پلان کې د مینونو له امله اغیزمن شـــوی وکړي هم شـــامل ول. په ۲۰۱۰ کې، افغانسـتان د معلولیت لرونکو اشـخاصـو د حقونو او ګټو ملي قانون تصـــویب کړ چې د دی قانون په تصـــویب سره د معلولیت لرونکو خلکو اقتصادي، ټولنیز، سیاسي، کلتوري، تعلیمي او ظرفیت لوړولو سره مرسته وشوه چې په دغه برخه کې میرمنې او ماشومان هم شامل دي، په ۲۰۱۲ کال کې د ملګرو ملتونو کنوانســیون لخوا د افغانســتان د معلولیت لرونکو وګړو د حقونه تصـــویب کړ. دغه هیواد معلولیت لرونکو خلکو لپاره څو ملی پالیسـیاني او تګلارې جوړې کړي دي. په هرصـورت، هیره دې نه

وی چې دغه هیواد د معلولیت لرونکو اشـخاصـو وضـعیت ښـه کولو لپاره کوم اغیزمن گامونه ندي پورته کړی او د افغانســتان دولت د معلولیت لرونکو اشــخاصــو د ملاتړ لپاره خپل ملي او نړیوال مکلفیتونه او ژمنې نه دی پوره کړي. نو ویلي شـــو چې په ټولنیز ډول تبعیضي‌ــ چلند او د دې خلکو په وړاندې د نامناســب خبرو کارول نه یوازې دا چې دوی له ډیرو فرصت څخه بې برخې کړي، بلکې نور یې هم گوښه کړي دي.

معلولیت په افغانستان کې د یو شیمر خلکو له نظره د سپکاوی لامل بلل کیږي، حال دا چې دوی له یوی خوا څنډې ته پاتې شـــوی دی د دوی حقونه په بشـــپړه توگه نه دی ورکړل شـوی او هغه خلک چې د لږکیو غړي دي دوی توکمیزې، مذهبي ستونزی او د میرمنو پورې اړوند ستونزو سره مخامخ دي. د بیلابیلو لارو په کارولو له دوې سره تعصـــب او دوې ته ســـپکاوی کیږي د مثال په توگه د نفرت لرونکي، توهینونکي او ســـپکاوي کلمو کارول او په تعلیمي، اقتصـــادي او ســـیاسي فعالیتونو کې د برخې اخیســتنې محدودول. د معلولیت لرونکو د حقونو یو تن فعال وایي: "ما او زما ملگرو پریکړه وکړه چې د توکو پیرلو لپاره بازار ته ولاړ شـــو نو کله چې مونږ د خپلو ویلچرو سره پـه بـازار کې گرځیـدلونو، نو خلکو موږ تـه د ملخانو خطاب کاوه همدا ووچې مونږ پریکړه وکړه چې په کور کې پاتې شو." د لاس او پښو معلولیت لرونکي خلک د "د گوډ او شل" په نوم یادوی چې د دوی دغه کار په افغاني ټولنه کې د کرکې ډکې خبرو له ډلي شـمیرل کیږی. که چیرې یو څوک ناشــنوا (یا د اوریدو توان ونلري)، ډیری کســـان

هغه "کونړ" په نوم یادوی حال دا چې هغه شخص به یو ښه ا سلامی نوم هم لري. دانګلیسي څېړونکو د څېړنو پر بنسټ، په دې وروستیو کلونو کې د معلولیت لرونکو خلکو پروړاندې د نفرت او سپکاوي ژبې کارول ډېر شوي (واکر، ۲۰۱۹).

## ٤. د مذهب پر بنسټ کرکه لرونکې ویناوې:

د مذهب پر بنسټ کرکه لرونکې وینا تل په افغانستان کې پراخه پیمانه تر سترګو کیږي، چې دغه کړنه د مختلف ډلو ترمینځ د خونړیو شخړو لامل شوې. په ۱۹۹۰ میلادی کلونو کې د طالبانو د رژیم پرمهال، شیعه مسلمانانو او د افغانستان هندو او سکهـ مذهبي لږکیو د خپلو دیني عقایدو پر بنسټ، د شیعه مسلمانانو په ګډون، چې اکثرا د طالبانو لخوا کافران بلل کېدل، له تبعیض سره مخامخ ول. مګر له ۲۰۰۱ وروسته، د شیعه او اسماعیلیه مسلمانانو او هندوانو او سکهانو لپاره شرایط ښه شوي، که څه هم په ۲۰۱۴ کال کې د بهرنیو ځواکونو د لوی شمیر د وتلو او د خرابېدونکي امنیتي وضعیت له امله، د طالبانو ترڅنګ د نورو تروریستي ډلو لکه داعش راپیدا کیدو ، قومي او مذهبي لږکي یوځل بیا، تر ګواښ لاندې راوستي. او د داعش ترهګره ډله چې شیعه مسلمانان کافران بولي په ځلونو بریدونه هم کړي دي.

# دریمه برخه: له کرکجنو خبرو سره مبارزه کول

په داســـې حال کې چې په افغانســـتان کې د کرکجنو ویناو د مخنیوي لپاره فرصـــت رامینځته شـــوی، نړیواله ټولنه، مدني بنســـټونه د رســـنیو اســـتازي او مدني فعالان کولی شي د کرکجنو وېناو په وړاندې د مبارزې لپاره قضـــایي عملي طرحه جوړه کړي. لکه څنګه چې ورته اشـــاره وشـــوه چې د کرکجنو خبرو په وړاندې مبارزه د پوهاوي ورکولو ترڅنګ (د ټولنیزو رســـنیو, د کلي په کچه راډیوګانې او پروګرامونو) له لارې اغېزمنه ترسره کیدای شي.

## د مثبتو پیغامونو د رسولو لپاره ځیني ټکي

مهمه نده چې تاســـو د پیغام رســـولو ســـتراتیژي څه ډول کاروئ، باید ستاسو د پیغام مینځپانګه ډیزاین او تولید د کرکې بیان سره مبارزې لپاره د هڅو اصـــلي چورلیز وي. که څه هم د پیغام مینځپانګه باید د هرډول کرکې ضد کمپاین ځانګړي هدف وي، خو بیا هم دا مهمه ده چې د نړۍ له نورو هیوادونو ترلا سه شوې تجربې په پام کې ولرو ترڅو د کرکجنو وېناو سره مبارزه اغېزمنه وي. ښـــایي د یادولو ترټولو مهم شـــی دا وي چې هغه څوک چې د کرکجنو خبرو ملاتړ کوي یا د نفرت خپرونکو ډلو او ایډیالوژیو غړي دي، په ځانګړي توګه هغه کســـــان چې په آنلاین توګه خپل نظر څرګندوي، اکثرا په خپلو دریځونو ټینګار کوي؛ په هرصـــورت، په ټولنیزو رســـنیو کې د خلکو د باورونو او نظرونو بدلول ســـتونزمن کار دي خو هغه

څه چې مهم دي هغه د پیغام مثبت اړخ دی چې خلکو ته مثبت لیدلوری ورکوي.

د یو پیغام د چمتو کولو په وخت کې لاندی ټکې په نظر کې ونیسئ:

- کمپاینونه پیل کړئ، لیدونکي دې ته قانع کړي چې د کرکې د بیان په وړاندې گام واخلئ؛ او هم دوی د بدلون عامل شي. د ټولنیز پیوستون په شعارونو ډیر کار وکړی او د هغې په نشر کې ډیر هلې ځلې وکړي دا ځکه چې مســـاوي حقونه او ملي یووالي کیدای شي د نفرت پروړاندې د مبارزو مؤثره لاره وي.
- د نفرت لرونکې پدیدې سره د مقابلې په وخت کې د دروغو ادعاوې یا د کرکې ډکې خبرې تکرار نه شي، ځکه دا کړنه کولی شي چې په بی ساري توگه د نفرت د زیاتیدو لامل شي.
- اغیزمنې شـــوې ډلې یوازې د قربانیانو په توگه معرفی نه کړو بلکه دوی د ماډلونو(الگو) په توگه خلکو ته وښـــایو، او پام مو وي چې پخواني دودونه (کلیشه ها) په ناخاپي ډول تقویه نه کړئ.
- که امکان ولري، هغه ډلې او یا څنډو ته پاتې خلک وښـــایاســـت چې ستاسې ملاتړي او د نفرت د خپراوی مخالف دئ.
- خپلو پیغامونو کې عکســـونه، گرافیکونه او ویډیوگانې شـــامل کړئ؛ ځکه چې د متنونو په پرتله دغه پیغامونه ډیر واري نشرـــ ته سپارل کیږئ.

- د ســـپکاوي ډکو کلمو کارولو پر ځای، رغنده او مثبتې خبرې وکاروئ او داسې بحثونو ته ورشي چې قانوني اساس ولري
- ستا سو پیغام باید باوري وي.تا سې د هغه شخص په توګه چې د کرکې د مخنیوی لپاره کار او مبارزه کوئ باید ســتاســې خبرې د اوریــدونکو معتبر او د منلو وړ وئ. یو څوک چې د کرکجنو ویناو پر ضد خبرې کوي باید یو معتبر شخص وي، د بیلګې په توګه، په ټولنه کې یو پیژندل شوی کس یا مشهور شخصیت چې وینا یې په اوریدونکي باندې مثبت تاثیر لري.

**د کرکجنیو خبرو د اغیزو په اړه د عامه پوهاوي لوړول:**

دعامه پوهاوي لوړول یو له اغیزمنو لارو څخه دی چې خلکو ته د کرکې د بیان تخریبونکي اغیزو په اړه پوهاوی ورکوي او د ټولنیز یووالي او ســـوله ایز ژوند باندې اغیزه کوي. د کرکې بیان د نوعیت او د هغې منفي اغیزو په اړه د پوهاوي لوړولو سره، خلک کولی شي د پیژندلو او د نفرت ضـــد فلسفو څخه ډیر پوه شي. د وګړو د پوهاوي لوړول د کرکې د بیان د مخنیو په چاره کې مؤثره دي او بنـــایي د هغو خلکو په قناعت ورکولو کې ډیره مرســـته ونکړي چې دمخه یې د کرکې ویناوې خپرې کړې وي؛ له همدې امله، پوهاوی د لاندې اهدافو ترلاسه کولو لپاره کارول کیدی شي.

خلکو ته د کرکې د بیان زیان رسونکو او ویجاړونکو پائیلو په اړه پوهاوي ورکول او دا چې څنګه دغه ښکارنده په ټولنیز یووالي او پیوستون ناوړه اغیزه کوي، او څنګه د کرکې بیان د خلکو ټولنیز زغم آزمايي

**MAFINDO بنسټ په انډونیزیا کې د بدنامۍ سره د مبارزې لپاره د عامه پوهاوي لپاره د رسنیو څارنه او ارزونه کوئ. د انډونیزیا د ۲۰۱۹ ملي ټاکنو دمخه، داسې اندیښنې موجودې وې چې د سپکاوي پراخه کارول د انتخاباتي تاوتریخوالي لامل کیدای شي. د انډونیزیا د بدنامۍ ضد ټولنه یا MAFINDO د رسنیو څارنې، تفتیش او ګرځنده پیغام رسولو پلیټ فارم پیل کړی چې خلک کولی شي د ټاکنو پورې اړوند د بدنامۍ تحقیقاتو لپاره وکاروي. MAFINDO د بدنامۍ ضد مرکز په بشپړولو سره د عامه پوهاوي کمپاین هم پیل کړ. دا کمپاین د آنلاین او آفلاین پلیټ فارمونو (ویډیوګانو، خواله رسنۍ، بروشرونو) عامه پوهاوی لوړوي ترڅو د بدنامۍ مسله روښانه کړي او د دوی مسؤلیت په اړه د خلکو خبرتیا. د زیان رسونکي فلسفو شریکولو مخنیوي لپاره**

- خلکو ته پوهاوی ورکړئ، په ځانګړي توګه هغه کسان چې تاسو سره اړیکې لري، د هغو لارو په اړه ورته معلومات ورکړی چې قومي، ژبني، مذهبي او جنسیتی لږکي په نښه کیږي، او د دوی ګډې ګټې په نښه کوي.
- هغه خلک باید خبر کړی چې ښایي د کرکجنو خبرو په خپرولو کې ښکیل وي، دوی باید و پوهول شي چې که تاسې دغه شان کړنې تر سره کوی نو کیدای شي د قانونې چلند سره مخ شي.

- په ټول هیواد کې د کرکې په وړاندې د مبارزې لارو چارو او شکایت کولو په اړه قر بادیانو  ته پو هاوی ورکول شي او هغوې وپوهي چې  له کومو لارو کولی شي خپل شکایتونه درج او له دې ښکارندې سره مبارزه وکړي.

**د خواله رسنیو څخه په ګټه اخیستو د خلکو د عامه پوهاوي لوړل.**

پداسې حال کې چې د کرکې څرګندول نوې ښـکارنده نده، په کوم سرعت سره چې ټولنیزې رســـنۍ لکه فیســـبوک کرکه خپرونکو خبرو خپریدو ته اجازه ورکړې بې سارى دي. ټولنیزو رسنیو په افغانستان کې وده کړې، او د نورو هیوادونو په څیر، انټرنیټ او ټولنیزو رسنیو ته د لاسرسي د کرکجنو خبروډیروالي لا مل شـــوی. په حقیقت کې، قومي ملتپالې ډلې د آنلاین پوســـټونو، فلمونو، او قومي مباحثو له لارې قومي شـــعارونه خپروي او هغوی له ټولنیزو رســـنیو څخه په پراخه کچه کار اخیســـتو او ناپیژنده اکونټونو جوړولو د کرکجنو خبرو په خپرولو سره د اجتماعی رسنیو فضا تر ډیره خرابه کړی ده. د هر توکم ډلې ا ستازی هڅه کوي خپل پلویان ډیر کړي. دا ښکارنده  د ولسمشری ټاکنو په جریان کې لا چټکه او په څرګند حقیقت بدله شـــوه، کوم چې معمولا د قومیت پربنســـټ قطبي حالت ته ورسیده همدا وو چې د ولسمشرۍ د ټاکنو ټولې پایلې کړکیچنې شوې.

ټولنیز شـــبکې، د منفي پیغامونو خپرولو لپاره کارولو سربیره، د خلکو

اندیښنې راپورته کولو یا د دوی غږونو اوریدو لپاره د خورا پیاوړي وسیلي په توګه هم کارولی شـــو، په ورته ډول، د ټولنیزو رســـنیو کمپاینونه چې د کرکه خپرونکو خبرو اغیزو په اړه خبرتیا خپروي او پدې توګه د اتباعو د یووالي او حقونو په اړه مثبت پیغامونه شریکوي. د ټولنیزو رســـنیو کارول په ټولنه کې د کرکه خپرولو سره مبارزې کولو لپاره یوه مؤثره او ارزانه لاره ده د همدې لپاره، د ټولنیزو رســنیو له لارې د کمپاین رامینځته کولو لپاره، د مدني ټولنې استازې باید لاندې ټکې په پام کې ونیسي.

- خپل اهداف وټاکئ (هغه څه چې تاسو غواړئ ترلاسه کړئ): د خپل پیغام هدف تنظیم کړئ. د مثال په توګه، ایا تاسـو غواړئ د زیان رســونکي او ستونزې جوړونکې پیښې سره مبارزه وکړي چې دغه ستونزه په ټولنه کې ورځ تر بلې د ودي په حال کې ده، آ یا تاســو غواړئ په عمومي ډول د کرکجنو خبرو اغیزو په اړه خلکو ته د عامه پوهاوی لوړولو په برخه کې مرسته وکړي؟
- خپل لیدونکي وپیژنئ: په پام مو وي چې ستاسو پیغامونه باید ستاسې د کمپاین د ټارګټ شوی هدف په ا ساس تر سره شي ینعی هغه څوک او ډله چې تاســې غواړي چې پوهاوی یې لوړ شـــې آیا هغوی ته دا پیغامونه رسیږئ.
- د بودیجې اټکل.
- خپله ډله جوړه کړئ.

- پلټنه وکړي چې کومه لاره ستاسې د هدف د ترلاسه کولو لپاره آسانه او د پایښت وړکه ده.
- د خپل فعالیت د ترسره کولو لپاره تګلاره او د فعالیت سیمه وټاکئ.
- د اغیزمن پیغام رسـونې لپاره د لاربشـوونو ډک مینځپانګه لرونکی پیغام جوړ کړئ (لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه)

د پو هاوي کمپاینونو ډیزاین کولو او معلو ماتو خپرولو لپاره خورا مهم پورتني ګامونه د اهدافو، اصـلي لیدونکو( مخاطبین)، سرچینو اړتیاو او خپرولو ستراتیژۍ (مناسـب شرایط) کوم چې عموما د تـحـلـیـلـونـو او غـونـډو، یـا نـورو میتودونو لـه لارې ترسره کیږي.

خـپـل پـیـغـام د، پوسټرونو، بینرونو، او د ولسـې هنرونو په کارولو سره خپور کړئ:

**په سویلي سوډان کې د ځوانانو ډلې د بهرنیانو په وړاندې د کرکې بیان سره مقابله وکړه**

**په سویلي سوډان کې، د بهرني مرستندویه کارکونکو په اړه کرکجن او غلط معلومات زیات ول. دغو خلکوادعا کوله چې بهرنیا د کرونا ویرس سره مبارزه نه کوئ بلکې د زیاتیدو لپاره یی کار کوي.چې دغه کار د کلیوالو روغتیا پاملرنې ته زیان ورساوه او له امله یې په بهرنیو مرستندویو باندی یو برید وشو. د ځوانانو شبکې په سویلي سوډان کې د افواهاتو سره مبارزي ډلې رامینځته کړې، چې د نورو فعالیتونو په منځ کې، د کلیوالو ترمنځ د هغه غلطو معلوماتو په اړه عامه پوهاوی زیات شو چې د بهرنیو مرستې د خلکو د ګټې لپاره دي.**

پدا سي حال کې چې ټولنيز رسنی لیدونکو ته رسیدو لپاره ارزانه لاره ده، نو تاسې باید پوسټرونو، ویناپاڼو او د کیلوالې هنرونو له لارې د معلوماتو خپرولو لپاره کار واخلی. دوديز میتودونه د مخاطبینو لپاره مهم دي چې ممکن ټولنیزو رســنیو ته لاسرســی ونلري، په ځانګړي توګه په لیرې پرتو ســیمو کې تاســو باید په غور پیغامونه جوړ کړئ ځکه دغه طبقه خلک دوديز میتود ته اړتیا لرئ. د پیغام د نشرــ نه مخکې با ید د پیغامونو مینځپانګې په غور سره ولیکل شې. ستا سو د پغام د مینځپانګې د لیکلو لپاره زیات فکر او غور ته اړیتا لری تر څور موثر او ګټورتوب یې په نهایی حالت کې قرار ولری. لاندې ټکې تاسې سره مرسته کوی چې څرنګه پیغام تیار کړئ.

- خپل هدف روښانه کړئ او بیا خپل هدف او مخاطبینو ته په کتلو خپل د عامه پوهاوی پیغامونه ترتیب کړئ.
- د زړه راښــکونکو انځورګري(نقاشــی) او انځورونو څخه ګټه پورته کړئ.
- هغه عنوان وټاکی چې ستاسو د پیغام مهمه برخه بیانوی.
- خپله مینځپانګه(محتوا) د خپلو لیدونکو اړتیاو او سواد سره سم تنظیم کړئ، په یاد ولرئ چې انځورو نه او متن ډیر اغیزمن دي اود خلکو په ذهن کې تر ډیره ساتل کیږي.

- خپل پیغامونه د مخاطبینو د علم د کچه په اندازه ترتیب کړی لکه ( عامه ځایونه، کور په کور کمپاین، ښــوونځیو دروازی مخې ته او دیته ورته نورو طریقو په کارولو).

**د محلي شورا غونډو له لارې د معلوماتو راټولول او خپرول:**

د سیمه ییزو شوراگانو ناستې کولی شي د کرکې د بیان د تاثیراتو په اړه د معلوماتو شریکولو او د ځایی خلکو پام راجلبولو لپاره د لاره اواره کړي. د محلي شـورا ناسـتې د مدني ټولنې فعالینو ته هم فرصـت برابروي ترڅو د خلکو اندیښنې درک کړي او د هغوی د عدالت غوښتنې فعالیتونه د ځایی خلکو لومړیتوبونو سره ســم کړي. مدني فعالان اړتیا لري او باید چې د ځایی خلکو سره په پراخه کچه کار وکړي.

**تلویزیون او راډیو:**

په لویو ښارونو کې، چیرې چې د کلیوالو سیمو په پرتله د کرکې بیان ډیر عام دی او خلک معمولا رســنیو ته لاسرســی لري، په ځانګړې توګه ټولنیز رسنۍ، تلویزیون او راډیو پیغامونه په پراخه کچه او په اسانۍ سره پراخه لیدونکو ته د لاسرسي وړ دي. ستاسو پیغامونه ډیرو اوریدونکو ته رسیږي.

**د نفرت لرونکو خبرو څارنه او راپور ورکونه:**

د نفرت کولو ډیری قضـــیې ډیری وختونه د ټولنیزو او دودیزو رســـنیو له لارې راپورته کیږي. په ډیری قضـــیو کې، رســـنۍ د نفرت خپرولو لپاره د یوی لارې په توګه کارول کیږي؛ د همدې لپاره، د رســـنیو څارلو لپاره د

میکانیزم درلودل خورا مهم دي. د مدني ټولنې بنســټونه کولی شــې د یو واحد نظر په اساس د ټولنیزی رسنی او غېږیزي رسنیی د څارنې لپاره یو خاص میکانیزم جوړ او پرې څارنه وکړي.

د مثال په توګه، هغه اداري چې د معلولیت لرونکو خلکو لپاره کار کوي کولی شي د معلولیـت لرونکو خلکو پروړانـدې د کرکجنو خبرو تر سره شــوی قضــیې ثبت کړئ، بله خوا د میرمنو ډلې کولی شي د کرکجن بیان قضی هم د ځان سره ثبت کړي چې د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالی لامل کیږي. د رسنیو څارونکی کولی شي په ټولنیزو رسنیو، تلویزیون چینلونو او راډیو کې د کرکې خبرې وڅاري.

د کرکې د بیان نمونې ټولې باید وپیژندل شي، او د اړوندو لارو څخه راپور ورکول شي. د مثال په توګه، په فیســبوک کې د کرکجنو ویناو خپرول لکه د توکمیز، ژبني او مذهبي ډلو پروړاندې نفرت لرونکي پیغامونه چې دوی ته زیان رســوي. دا چاره د کرکجن بیان په قضــیو کې د مؤثره راپور ورکولو د تایید لپاره له اړوندو ادارو سره مرسته وکړي.

شکایتونو ته د لاسرسی په خاطر باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي:

- د شکایاتو لاسته راړل.
- د شکایاتو ثبت.
- د شــکایاتو څارنه او ځان پوهول چې ایا دغه شــکایات د ثبت کولو وړ دی.

- د شکایاتو خیړل( په منظمه توګه).
- د شکایاتو خیړل په بې پرې او مسلکې توګه.
- د راپورونو خیړل او چټمو کول.
- د راپورونو د پائیلو شریکول مربوطه دولتی ادارو ته.

**د کرکې ویناو په اړه د یو بنسټ غبرګون:**

د اندونیزیا د سیمه ایزو ټاکنو په سر کې، د مخابراتو وزارت، ملي پولیس، د ټاکنو د څار بنسټونه او د ټاکنو کمیسیون د نفرت بیانونو څار او مبارزه لپاره خپله همکاري ګړندۍ کړې. د انډونیزیا د مخابراتو وزیر، د حکومت او قانون پلي کونکو لخوا د ټیکنالوژۍ پراساس د څارنې ستراتیژیو ته په اشارې سره، د عامه پوهاوي کمپاینونو ملاتړ وکړ "د تبعیض او نفرت بیانونو خپریدو مخنیوي لپاره یوه مؤثره لار". ټاکل شوی وزیر پر شخصیتونو، مدني ټولنې او نامتو خلکو غږ وکړ چې د پوهاوي لوړولو په فعالیتونو کې برخه واخلي.

سرچینه: Muntarbhorn, Vitit, د ملی او مذهبی نفرت لرونکو خبرو مطالعه د تحریک بندیز.اسیا اوقیانیوس

د نامناسب افواهاتو او پروپاګند کمولو لپاره د اړوندو وګړو او بنسټونو سره ورته عمل: کرکې خپرول یوه پراخه ستونزه ده او یوازې یوه ډله نشي کولی هغه خپاره کړي. لکه: مدني ټولنې، دولتي چارواکي، ژورنالیستان، انتخاباتي ادارې، ناظر بنسټونه او د رسنیو شرکتونه چې هر یو یې مختلفې کاري برخې لري، نو باید ټول د نفرت کمولو لپاره په ګډه هلې ځلې وکړي. د مدني ټولنې فعالین، د ټولنیزو شبکو بانفوذه کارونکي چې د مدني فعالیت ملاتړ کوي، او حکومتي چارواکي اړتیا لري چې د هر ډول

احتمالي تــاوتريخوالي مخنيوي لپــاره د نفرت خپرونکو خبرو مخنيوي لپاره په ګډه کار وکړي.

**د بدلون راوستلو لپاره عدالت غوښتنه:**

عدالت غوښــتنه د غږ اوريدو او غږ پورته کولو يوه وســيله ده، دا بهير د عدالت غوښــتنې غږ ســياسي ډلو ته رســوي چې تاســې کومې ژمنې د مختلفو جرياناتو په لړۍ کې تر سره کړي بايد هغه ژمنو ته د عمل جامه ور واغوندي. عدالت غوښتنه کولی شي چې په يو اداره او يا د چارواکو په انتخاب، ګومارنه او د قوانينو په اصــلاح کې رغـنـده رول ولـوبـوی کوم چې بايد په يوې اداره کې دې چارې ته کار وشي؛ په ټوله کې عـدالـت غوښــتــه د بدلون په معنا ده، نو دغه کړنه کولی شــې چــې د لابـيـګـرۍ، د بنسټونو په پرانيسته، د مـدنې بنســټونو

> **د نفرت لرونکو خبرو پر وړاندی احتمالی تګلاره او چوکاټونه:**
> - **اساسی قانون**
> - **د جزا قانون**
> - **د ملی يووالی/انسجام/ هم زيستی**
> - **د ټاکنو قانون**
> - **د سياسی ګوندونو قانون**
> - **د رسنيو قانون**
> - **د کفر الفاظ پر ضد قانون**
> - **د توپيری چلند (تبعيض) پر وړاندی قانون**
> - **ملی پراختيا برنامه**
> - **د جنسيت ملی پاليسی/برنامه عمل**
> - **د بشر حقونو ملی او د عمل برنامه**
> - **د توتريخوالی(نفرت لرونکې خبرو) قانون**
> - **د انټرنيټی امنيت قانون**
> - **د ملی امنيت قانون**
> - **د ګرنلارو ګوډ.**
>
> **Source: IFES White Paper on Countering Hate Speech in Elections**

ملاتړ، د رسنیو سره دوامداره اړیکي او دی ته ورته نور فعالیتونو په اساس لاسته راوړنې ولري.

په افغانســـتان کې د کرکجنو ویناو په اړه، د مدني ټولنې بنســـټونه باید د قضـــیې ډول او د هغوی چلند ته په پام سره د نفرت د پدیدې پروړاندې مبارزې لپاره بیلابیل ســـتراتیژۍ وکاروي. پداســـې حال کې چې د افغانستان د نوي جزا قانون کې د نفرت بیان جرم دی، خو که څه هم چې د نفرت بیان د تعریف کولو لپاره ډیری اړین عناصر شـــتون نلري،د نفرت بیان د مذهب، جنســیت، معلولیت او داســې نورو پراســاس کیدی شي. په جزایي قانون کې د دې مادې پلي کول د ځانګړي قانوني ا قدا ماتو د نشـــتوالي له امله زیانمن کیږي چې د یاد قانون څخه سرغړونکي باید مجازات شي. مدني ټولني باید د نفرت د پدیدې سره د مبارزې لپاره ټول نوښتونه په لاره واچوي. لکه څنګه چې یادونه وشوه، د یو منظمې پالیسي په درلودلو سره اغیزناک ګام واخستلای شې.

د پولیسو، څارنوالانو، او مدني ټولنې بنسټونو لپاره باید د کرکجنو خبرو د راکمولو په اړه د روزنې برنامې او د عامه پوهاوی د لوړاوی ورکشاپونه په لاره واچول شي.

دا مهمه ده چې ټول پوهاوی په ځانګړي ډول ټاکل شـــوی هدف ته په پام کې تر سره شي، او د بشري حقونو په چوکاټ کې چمتو شي او له تبعیض

څخه د خلاصــون، د ســوله ایزې آزادۍ او د بیان آزادي او د کرکجن بیان ترمینځ اړین توپیر په پام کې ونیول شي.

**پولېس:**

د نفرت لرونکو خبرو او کرکه رامینځته کونکو قضــیو او جنایی پیښــو د راکمولو لپاره باید امنیتی ځواکنونو په خاصـــه توګه پولیســـو ته د عامه پوهاوی پروګرامونه په لاره واچول شي، دغه برنامي باید په داســـې بڼه ډیزاین او روزنــه ورکړل شي چي پولیس پــه دی قــادر شي چې د نفرت خپرونکو خبرو قضــائی وپیژنی او د هغې د مهارولو لپاره کوټلې ګامونه تر لاس لاندی ونیسې، پولیسو ته باید وښودل شې چې څنګه مستند سازی یا د شـــواهدو او معلوماتو په راټولونه کې اقدام وکړي کوم چې د نفرت لرونکو خبرو په پائیله کې رامنځته شـــو دی، لکه ځینې وختونه په انلاین بڼه د تاوتریخوالي ډکې خبرې خپریږي. چې دغه چاره د خلکو ترمنځ د نفرت د زیاتوالی ســبب ګرځي نو پولیس باید ځان مســؤل وشــمیری او د نفرت لرنکو خبرو د مخنوی کار وکړی او دوی باید خپله هم د نفرت لرنکو خبرو د ترسره کیدول څخه ځان ســاتنه وکړي، نو پولیســو ته اړتیا ده چې د مجرمینو او قربانیانو سره خپل چلند په مناســـبه بڼه عیار کړي تر څو خلک د پولیسو سره په هر برخه کې مرسته وکړي.

## څارنوالان:

څارنوالانو ته باید یو لړ روزنې ورکړل شي ترڅو د دوی ظرفیت او پوهه لوړه شي، ترڅو د قانون لخوا اجازه ورکړل شوي قضیو کې د کرکجنو خبرو بشپړ تحقق وکړي. څارنوال باید پوه شي چې څرنګه له مجرمینو سره چلند وکړي او د قربانیانو سره اړیکه ونیسي ترڅو شواهد وړاندې شي.

## د مدنې ټولنو بنسټونه:

له دې امله چې د مدني ټولنې فعالین د کرکه خپرونې جرمونو په نظارت، مستند کولو، او راپور ورکولو کې حیاتي رول لوبوي، دوی اړتیا لري چې په ټولنه باندې د کرکچنوویناوو تاثیراتو او په وخت سره د دې پدیدې د مخنیوي اهمیت څخه خبر وي. د مدني ټولنې بنسټونه کولی شي په داسې توګه عدالت غوښتنه وکړي چې ټولنیز یوالي ته زیان ونه رسیږي. دوی کولی شي د قانون لپاره کمپاین هم وکړي ترڅو د نفرت څخه ډکې خبرې جرمي کړي. د نفرت ضد پیغامونو خپرولو سربیره، مدني ټولنه کولی شي د بیان ازادی ضد عاملینو محاکمه کولو لپاره د قانوني میکانیزمونو په اړه د پوهاوي په لوړولو کې مهم رول ولوبوي، او د بیان آزادی سرغړونکی که هغه (پولیس وي یا د ټولنیزو رسنیو کارونکی) باید محاکمه شي. که چیرې خلک د قوانینو په اړه معلومات ونلري نو هیڅ ډول مقررات به اغیزمن نه وي.

## ژورنالستان:

د کرکجنو خبرو خپریدل د بیان د آزادۍ لپاره یوه اســـاسي ننګونه ده. دا ښکارنده د بیان د آزادي نه په ناوړه ګټه اخیستو سره وده کوي. د رسنیو له لارې د بیان بیلابیل ډولونه، کوم چې د بیلابیل دلیلونو لپاره د ځانګړي ډلو یا افرادو پروړا ندې د نفرت، تاوتریخوالي او تبعیض خپرولو لاملو نه دي څرګندیږي. خبریالان اکثرا لومړی د دې مســلې سره مخ کیږي. دوې پوهیږي چې کرکجن پیغامونه څه ډول د ر سنیو له لارې خپریږي. له دې امله چې په افغانســتان کې ډیری ژورنالیســتان تجر به نلري، ځینې وختونه د دوی عملونه په ناپوهۍ په پروپاګند بدلیږي .

د کرکه لرونکي تیروتنو کنټرول د اخلاقي ژورنالیزم یو مهم اصــل دی. په ناســم چاپیریال کې ځینې وختونه خبریالان پخپله د ســیاسي تعصــب قرباني کیږي. همداراز داســې ژورنالیســتان هم شــته چې رســنۍ په خپل قومي او سیاسي پروپاګند کې د نفرت خپرولو لپاره یوه وسیله ګرځوي.

د نفرت لرونکو خبرو د مخنیوي په اړه د ژورنالیســتانو روزل او د دوی پو هاوی لوړول هغه څه دي چې د کرکې خپرولو د مخنیوي لپاره با ید ترسره شي؛ ځکه چې ډیری وختونه د کرکې د بیان د پدیدې په اړه ناپوهي د هغې د ودې لامل کیږي.

**په افغانستان کې د کرکې لرونکو خبرو څارنه او څیړنه:**

نفرت لرونکې وینا په افغانستان کې اوږد تاریخ لري. د تاریخ په اوږدو کې، واکمنانو د مذهب کارولو له لارې توکمیزو او مذهبي لړکیو باندې فشـــار راوړی څو خلک د خپلو ګټو لپاره د وســیلې په توګه کاروي. تر دې دمه په افغانســـتان کې د کرکې د بیان دلایلو او پایلو په اړه هیڅ تحقیق نه دی شوی؛ نو ځکه، د کرکه خپرولو، د هغې حد، علتونو او پایلو په اړه هراړخیز تحقیق ته بیړنې اړتیا لیدل کیږي.

یوه پروژه باید لاندنیو ټکو ته په کتو سره ډیزاین شي:

- په لیکلي، غږیزي او ټولنیزو رســنیو کې د کرکجنو خبرو راټولولو او تعقیب لپاره د میتودونو چمتو کول.
- د ټولنیزې رســـنۍ، متن، غږ او ویډیو له لارې د یوې مودې په جریان کې د نفرت خپرونکي بیان اومه(خام) مواد ترلاسه کول.
- د راپور ورکولو یو منظم میکـانیزم جوړول او د راپور ورکولو پر واړا ندی مو جده خنډونو څیړل او دوی په دی پوهول چې کوم موضوع راپور شي او کوم یو راپور نه شي ورکولای.

معلو مات ننني نړۍ کې یوه مهمه سرچینه ده. هرڅومره چې تاســـو د خپلو لیدونکو په اړه ډیر پو هاوی ولري هومره ښــــه د هغوی په اړتیاو، اندیښنو او ګټو پوهیدای شئ. د لیدونکو اندیښنې او ګټې په وخت سره په ګوته کړئ .معلومات باید په ســـیســـتماتیک ډول راټول شي ترڅو یو فرد

وکولی شي د تحقیق پوښــتنو ته ســم ځواب ووایی او پایلې یې وارزوي. د لیدونکو په اړه معلومات تاسو ته د اړتیاو پوره کولو وړتیا درکوي.

لاندې پنځه مرحلې د معلوماتو راټولولو لپاره مهم دي:

- تاسو باید مشخص کړی چې څه راغونډ کړئ.
- مشخص کړئ، چې کله باید د معلوماتو راغونډول پیل کړئ.
- دا معلومه کړئ چې تاســو د معلوماتو راټولولو لپاره کومه تګلاره کاروئ.
- د معلوماتو راټولول پیل کړئ.
- راټول شوي معلومات تحلیل کړئ.

**د معلوماتو راټولولو طریقه:**

تاســو کولی شي د کرکجنو خبرو په اړه د معلوماتو راټولولو لپاره لاندې طریقې وکاروئ

- نظر پوښتنه
- ژورې مرکې
- پر ټولنیز رسنیو څار درولودل.

**په شخړو کې د فرهنګي منازعاتو درک کول:**

- هغـه راپورونـه چې د منـازعـاتو پـه وخـت کې پـه فرهنګی حسـاسـیتونو بدلیږی داشـان موضـوع په افغانسـتان کې ډیرې

پیدا کیږی، پدا سې حال کې چې په افغانستان کې روانه شخړه کې، بلواگر اکثره د یوې توکمیز غړي دي، بلواگر باید په بشـــپړه توگه ټولنې ته ونه پیژندل شي. په نورو ټکو د یوې توکم بلې ډلې غلطي باید د ډیر احتیاط سره وشي. د کلتور او دود تنوع ته هم باید درناوی وشي، او ژورنالیســـتان باید په خپلو کارونو کې مسلکي وي.

# ماخذ او لړلیک

Ahmed, Azam and Zahori, Habib "Afghan Ethnic Tensions Rise in Media and Politics," *The New York Times*, February 18, 2014. https://nyti.ms/3ihqaLH

Afghan Voice Agency, "UN Formally Complains over IEC Commissioner Threatening Behavior," November 11, 2019. https://bit.ly/32ToUHY

Afghan Pazhwok News Agency. "The Mass Media Law," January 5, 2006. https://bit.ly/313v0WR

Ala, n.d. "Hate Crime and Hate Speech," *American Library Association*. https://bit.ly/37baUg4

Alzahrani, Saeed Mohammad, "Hate Speech from the Traditional Islamic Perspective," 2017.

Barr, Heather, "Afghan Government Ignoring Violence Against Women," *Human Rights Watch*, 2018. https://bit.ly/3a6fIW8

Bezhan, Frud, "No Afghans Allowed: Iranian Store Owner Punished Over Racist Shop Sign," *Radio Free Europe Radio Liberty*, 2019. https://bit.ly/2LogqUc

Curtis, William M, "Hate Speech," *Britannica*, 2010. https://bit.ly/2Kl4lPj

Edrinnie, Kayambazinthu, and Moyo Fulata, "Hate Speech in the New Malawi, A Democracy of Chameleons: Politics and Culture in the New Malawi." In *A Democracy of Chameleons: Politics and Culture in the New Malawi*, edited by Harri Englund, *87*-102. Uppsala: Nordic African Institute, 2002.

FBI, “Hate Crime,” *FBI Official Website,* 2009. https://bit.ly/346wvVh

Hakimi, Orooj and Nickel, Rod. “Defying Threats, Afghan Singer Aryana Comes Home for Women, *Egypt Independent,* March 16, 2019. https://bit.ly/2Qth6qC

Heart of Asia. “Hate Speech Cannot Be Allowed to Turn Afghan against Afghan: UN Envoy, May 3, 2020. https://bit.ly/31PghPl

International Foundation for Election Systems. “Violence against Women in Elections in Afghanistan: An IFES Assessment,” April 2019. https://bit.ly/2QpgWRl

International Foundations for Electoral Systems. “Countering Hate Speech in Elections: Strategies for Electoral Management Bodies,” January 2018. https://bit.ly/2Y58MS9

Independent Electoral Commission, “Code of Conduct for Candidates,” 2014. https://bit.ly/3mbfbo5

Laub, Zachary, “Hate Speech on Social Media: Global Comparison,” *Council on Foreign Relations,* 2019. https://on.cfr.org/2JPsldv

Ministry of Labor, Social Affairs, Martyrs and Disabled of Afghanistan. “Afghanistan National Disability Action Plan 2008-2011,” May 2008. https://bit.ly/329Ds7c

Ministry of Justice of Afghanistan. “Political Parties Law,” June 3, 2009. https://bit.ly/30WbZFB

Ministry of Justice of Afghanistan. “Penal Code,” May 15, 2017. https://bit.ly/34f4tb5

Mill, David van, “Freedom of Speech,” *Stanford Encyclopedia of Philosophy*, 2017. https://stanford.io/2KoGFcz

Ndahiro, Kennedy, “In Rwanda, We Know All About Dehumanizing Language: Years of Cultivated Hatred Led to Death on

a Horrifying Scale," *The Atlantic,* 2019. https://bit.ly/37XxZCd
Nekzad, Kkalid. "Disabled People Challenged by Discrimination," *TOLO News,* September 1,2019. https://bit.ly/2Rbfhz7

Office of the High Commissioner for Human Rights, "Report of the Independent International Fact Finding Mission on Myanmar," September 2018. https://bit.ly/3neXK7y
Pajhwok Afghan News. "Facebook Tension Between Saleh, Mohaqiq Heightens," November 24, 2019. https://bit.ly/3gQkVAY
Radio Free Europe. "Afghan Women, Girls with Disabilities Face Discrimination, Obstacles: HRW," April 28, 2020. https://bit.ly/3bEloFD
Rahimi, Wali Mohammad. Status *of Women: Afghanistan* (Bangkok: UNESCO, 1991), 7, https://bit.ly/32qe4Jn.
Simpson, Robert Mark, "Dignity, Harm, and Hate Speech," *Law and Philosophy* 32 (6): 28-201.https://doi.org/10.1007/si
The Asia Foundation. Model Disability Survey of Afghanistan (2019). https://bit.ly/3a7yxYL
The Office of the President. "The Constitution of Afghanistan," January 26, 2004.https://bit.ly/3g3KLRv

United Nations, "United Nations Strategy and Plan of Action on Hate Speech," 2020. https://bit.ly/382DGic

UNESCO, n.d. "Journalism, Fake News, and Disinformation: A Handbook for Journalism Education and Training," *United Nations Educational, Scientific and Cultural Organization*. https://bit.ly/3qT8HOc

UNGA, "Universal Declaration of Human Rights," 1948. https://bit.ly/37c6ju1

UNGA, "International Convention on the Elimination of All Forms of Racial Discrimination," 1965. https://bit.ly/382oAcq

UNGA, "The International Convention on Civil and Political Rights," 1966. https://bit.ly/3a4wZPg

UNGA, "Convention on the Elimination of All Forms of Discrimination Against Women," 1979. https://bit.ly/2INilAW

UNGA, "Convention on the Rights of Persons with Disabilities," 2006. https://bit.ly/3qOVXbr

Walker, Amy. "Online Hate Crime Against Disabled People Rises by a Third." Guardian 2019. https://bit.ly/2KjXQfs

Waldron, Jeremy. *The Harm in Hate Speech*. London: Harvard University Press, 2019. Accessed December 13, 2020. https://bit.ly/2LxTH8r.

این رسـاله یک منبع راهنما برای شناخت نفرت‌پراکنی و مقابلـه‌ی مؤثـر با آن در عین محافظت از حق آزادی بیان است و به چالش‌هایی که نفرت‌پراکنی در مشارکت فراگیر دموکراتیک و رعایت قواعد حقوق بشری ایجاد می‌کند، نیز می‌پردازد. این نوشته بر اساس اصول حقوق بشر نوشته شده اسـت؛ اصولی مانند آزادی بیان، برابری انسـان‌ها و نبود تبعیض، خشونت و سوءاستفاده که همگی برای ایجاد و تقویت یک جامعه‌ی متنوع، کثرتگرا و دارای تساهل مهم اسـت و در موجودیت آن‌ها، تمام مردم جامعه از حقوق بشری‌شان برخوردار می‌شوند.

Civil Society & Human Rights Network (CSHRN)

www.cshrn.af